| د کرونا کیسې | ۴ |

د کندهار، هلمند، زابل، ارزگان، میدان وردک او غزنی کیسې



# اوازې

نعیمه غني

ACKU

ACKU

د کرونا کیسې

اوازې

نعیمه غني

د اریکو شمېرې: ۴۵۰

Facual Stories on Covid-19

# The Rumors

*Naima Ghani*

کیسه داسې ده چې زه د غزني د ښار د روغتون په عاجله خونه کې دنده لرم او په هغه شپه نوکري وم. د ماښام تیاره او خړه لا سمه نه‌وه خوره شوې چې یو سپین‌ږیری ناروغ یې روغتون ته راوړ. د ناروغ وضعیت خورا ډېر خراب و، کابو یوه اوونۍ یې په کور کې د کرونا تبې او دردونه تېر کړي وو، خو له نن سهار راهیسې یې وضعت بیخي خراب شوی و او په ساه‌اخیستلو کې یې ستونزه لرله. ځایي ډاکټرانو په کور کې ورته اکسیجن ورکړی و، خو کومه گټه یې نه‌وه کړې او دا دی اوس یې په دې ماښام، کرونا سنټر ته راوستی و. مشرانو به ویل چې شپه د ناروغانو له‌پاره ډېره درنه وي. زه چې دلته کار کوم نو په دې خبره مې نور هم باور ډېر شوی چې شپه د ناروغ له‌پاره تر ورځې خطرناکه او له کړاوه ډکه وي. البته د دې خبرې له‌پاره کوم علمي دلیل نه‌لرم، خو د یوه عادي کس په توگه کله کله د ناروغانو په اړه له ځان سره وړاندوینه کوم او وایم چې که دا ناروغ نن شپه ژوندی پاتې شو، نو بیا نه‌مري.

کله چې نیمه شپه د ناروغانو په خونو گرځم راگرځم او د خونو نظافت گورم، نو وینم چې ناروغان د شپې لخوا ډېر په عذاب وي. ښایي دا به له دې کبله وي چې د ورځې لخوا استراحت او ویده وي او د شپې لخوا یې مرض زورور کېږي او یا هم ښایي له دې کبله وي چې د شپې لخوا هره خوا چوپه چوپتیا وي او د ناروغ ماغزه چې د همېش له‌پاره د شپې له ارامۍ او چوپتیا سره بلد او اموخته دي، نو تر عادي حالته ډېرې ارامتیا ته اړتیا ښيي او له همدې امله ناروغ ډېر ناکرارېږي او په همدې وجه یې ناروغي هم زور کوي.

توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension
ISBN 978-9936-662-16-2
9789936662162

بسم الله الرحمن الـرحيم

# آوازي

نعیمه غنی

**د کتاب معلومات**

**آوازې «د کرونا کیسې»**

**لیکواله:** نعیمه غني

**سمونکی (ایډیټر):** محمد عالم کوهکن

**ادبي ناظر:** محب الله زغم

**انځورګره:** بهشته محسنی

**ګرافیک ډیزاینر:** سمیرالله فردوس

**خپرندوی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز ACKU

**د پروګرام مسوول:** کاظم‌حمیدی‌رسا

***خپرندویه کمیټه:*** عبدالوحید وفا، حبیب وقار او فیض محمد نایاب

***لومړی چاپ:*** ۱۴۰۱ لمریز /۲۰۲ ز

***پر له پسې شمېره:*** ۴۵۰

*ISBN* 978-9936-662-16-2

## له لوستونکو سره خواله

ځینې انساني پېښې یوازې تاریخي پېښې نه دي چې په ثبتولو سره یې د تاریخ لیکلو کار وکړو. دغه پېښې پخپله دقیقاً د تاریخ مبدأ دي: نوي پېر ته د سفر پیل او د اوښتون ټکی. د تاریخ لوری بدلوي او تر هغه وروسته به د تاریخ په اړه د بشر پوهه بل کیفیت لري.

د کورونا نړۍ‌واله وبا هم دغسې پېښه ده. دا یوازې د یوې ساري ناروغۍ خورا تېز خپرېدل نه وو. په یوه شپه کې د نړۍ د اقتصاد راپرځېدل، د بې‌روزګارۍ بې‌خرته زیاتېدل، د دنیا د صحي سیستمونو ګډوډېدل وو، او تر ټولو مهمه د یو ویشتمې پېړۍ انسان د ناچارۍ او بې‌چاره‌ګۍ نښه هم وه. هغه انسان چې د تخیل او ځان غوښتونکي تکبر په وجه د خپل چاپېر جهان پر پوهې مسلط شوی و خو ډېر آسان د داسې موجود په وړاندې په ګونډو شو چې تر ده میلیونونه ځله کوچنی و. نو، د کورونا ویروس راڅرګندېدل او خپرېدل یوازې د یوې ساري او نیوونکې ناروغۍ خپرېدل نه وو. د بشر د تاریخ داسې نوی پړاو و چې ثبتول او خاطره کول یې یوازې د

تاریخ او تاریخ لیکنې په وس کې نه دي. دا په دې چې تاریخ د روایتګرۍ د سنت پر بنا یوازې د لویو پېښو روایت کوي. جزئیاتو او ورو کیفیاتو ته پام نه کوي، د ټولنیز ناورین مختلف بُعدونه نه راسپړي، د فاجعې پر خاصې زمینې تکیه نه کوي، همدا ځای دی چې ادبیات میدان ته وردانګي او د پېښې ماهیت په لا زیات دقت سره ګوري، کیفیات او جزئیات یې توصیفوي، له تخیل سره یې ګډوي او په آخر کې یې د بشر جمعي خاطرې ته ور ننباسي.

په همدې وجه، لازمه وه چې د کورونا غوندې عالمګیر ناورین دې یوازې په رسمي او غیر رسمي تاریخ سره مکتوب او پایېدونې نه شي. ادبیات هم باید د هغه په تل پاتې کولو کې خپله ونډه واخلي. ادبیات باید تر تاریخ ډېر څه وکړي چې د ثبتولو او خوندي کولو چاره یې لا ډېره وپایي.

همدا وه چې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د داسې فرهنګي مرکز په توګه چې په مختلفو برخو کې د بشري تجربو خوندي کول خپله یوه اصلي وظیفه ګڼي، را مخکې شو او هڅه یې وکړه چې د دې ستر او حیاتي کار مدیریت په لاس کې واخلي. دغه کتاب د همدې هڅې او موخې نتیجه ده. له کورونا ویروس سره د ځینو افغانانو د مجادلې کیسې.

د هغو واقعي انسانانو چې د ژوندي پاتې کېدو او بقا لپاره یې هڅه کړې ده؛ د اتلولیو، مېړانو، ماتو او بریاوو حکایتونه. هغه هم په داسې هېواد کې چې په دې نابرابره جګړه کې یې د نړۍ تر ډېرو هېوادونو په ډېرو برخو کې خورا لږ امکانات او ځواک درلود.

دا چې دغه کتاب څنګه ولیکل شو، لنډه توضیح یې دا ده چې په هېواد کې د کورونا ویروس د خپرېدو د لومړۍ څپې په پای کې، د افغانستان د معلوماتو مرکز له دې وبا سره د مجادلې د تجربو د راټولولو پروګرام طرح کړ. پرېکړه داسې وشوه چې د هېواد له شپږو زونونو څخه دې د دې مجادلې بشري تجربې راټولې شي.

دغه شپږ زونونه کابل، شمال، جنوب، شرق، غرب او مرکزي زون وو. په لومړي سر کې د پروګرام ګزارشګرانو له وګړو سره د مصاحبې له لارې اطلاعات او عیني تجربې راټول کړل. وروسته، دغه خام مواد د کتونکې ډلې په لاس لیکوالو ته ولېږدېدل. لیکوالو له یوې یا څو تجربو یوه لنډه کیسه جوړه کړه. نو، د دې ټولګې کیسې په ټوله کې د عیني واقعیتونو پر اساس لیکل شوې دي. پېښې ټولې واقعي دي او په دې کیسو کې د لیکوال د تخیل ونډه یوازې د فضا جوړولو، د صحنو اوډون او د لحن تولید و.

د کیسو په لیکلو کې هڅه شوې ده چې د امکان په حد کې د هغو سیمو د بومي فرهنګ ګوټیو خوند او رنګ وساتل شي چې دغه پېښې په کې شوې دي. دغه لحن د کرکټرونو نومونه، د ځایونو، جامو، خوړو، بوټو او ... نومونه رانغاړي چې په ټولو داستانونو کې یې خوندي کول عمدي کار و.

بله خبره دا چې، لیکوالو په لومړي سر کې کیسې په یوه ژبه یعنې یا پښتو، یا فارسي، یا اوزبیکي ژبه لیکلې دي. وروسته بیا د هرې ژبې کیسې دوو نورو ژبو ته هم ژباړل شوې او چاپ ته چمتو شوې دي.

د کار نتیجه په شپږو جلا جلا دفترونو کې راغلې ده چې دغه کتاب یې یو دفتر دی.

**د توانا پروګرام**
**په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز**



# د زمري په خوله کې

درې ورځې مخکې مې معاینه‌خانې ته راغی. شاوخوا نیم ساعت به راسره ناست و. د روژې له تندې یې سر ټکاوه. په تلو تلو کې یې وویل: نه‌پوهېږم، دا څو ورځې مې تبه وي او د پښو او ملا هډوکي مې هم ورسره سخت درد لري.

ما ورته وویل: ټسټ ورکړه چې خدای مه‌کړه کرونا نه‌وې.

مسکی شو او په ډاډه انداز یې وویل: نه بابا، هسې عادي زکام دی.

دا دی همدا اوس مې ستا له څنګ درملتونه د ټوخي شربت او د تبې ګولۍ واخیستې.

له معاینه‌خانې د وتو په وخت کې پښه نیولی شو، بېرته یې را مخ کړ او په اندېښنه یې وپوښتل: ایا کرونا خو به له یوه مخه ټول نه‌وژني؟

ومې‌خندل، نه! خو څوک چې د وینې جګ فشار، د سږو تکلیف یا هم شکرې ناروغي لري، په خطر کې دي.

دروازه یې خلاصه کړه، مخامخ یې بیا راوکتل او ورپسې راغبرګه یې

کړه: داسې راته وایې لکه د زمري په خوله کې چې یم.
دواړه په سترګو سترګو کې سره پوه شوو او دی ولاړ.
هغه د شکرې ناروغي او ساه‌لنډي لرله. د شکرې ناروغي یې پخوانۍ وه، خو ساه‌لنډي ورته دا درې کاله کېده چې پیدا شوې وه او په ژمي کې به سخت ځنې په عذاب و.
لا مې یې هماغه د خنداني څېرې تر شا ژوره پریشاني په سترګو کې ده.
ژور جمپ راغی او موټر په کې ورولوېد، له دې سره مې د خیالونو لړۍ هم وشلېده او نصیر ته مې پام شو چې له روغتیاپال سره یې د حاجي صاحب د اکسیجن ماسک ورسماوه.
ما هم لاس وراوږد کړ چې مرسته یې وکړم. له زابله د کندهار پر لور غځېدلی خام سړک جوړ سړي ذرې ذرې کوي، ناروغ خو پر ځای پرېږده. ډېر احتیاط په کار و. د ناروغ وضعیت شیبه په شیبه خرابېده. څه د کنډو کپر سړک له امله د موټر جمپونه او څه هم د ناروغ ساه‌لنډۍ له امله د اکسیجن ماسک هره شیبه د ناروغ له خولې راښوییده.
موټر بېرته لارې ته سم شو، خو لږ ځنډ وروسته یې سرعت بېرته راکم کړ. ژوره کنده وه، کرار په کې ورښکته شو او بېرته راوخوت، له دې سره زما د هغه ژمي پېښه را یاده شوه چې حاجي صاحب په کې یخ وهلی و. کیسه داسې وه چې له مساپرو ډک موټر د شاه‌جوی او کلات تر منځ پر لویه لاره، په یوه کنده کې ورلوېدلی و. سخته واوره ورېدله او مساپر هم له سړو رېږدېدل. هغه وخت حاجي صاحب لوډر درلود او په بیړه یې د خلکو مرستې ته وردانګلي وو.

تر نیمې شپې یې په سخته یخنۍ او ګردله کې د موټرو لاره پاکه کړه او مساپر یې له پېښې روغ او رمټ راوایستل. ټولو کلیوالو او مساپرو به حاجي صاحب ته دعاوې کولې، خو حاجي صاحب په هغه شپه یخ



وواهه او بالاخره ساه‌لنډي ورته پیدا شوه او دا دی ترننه ځنې کړېږي او اوس په موټر کې هم تري په عذاب دی.
په دې پسې یوه ورځ معاینه‌خانې ته هم راغلی و. ساه یې لنډه لنډه کېده او په سختۍ یې تنفس کاوه. ما ورته وویل: څه درته ووایم، د مساپرو له‌پاره دې ځان په لوی غم واړاوه.
په داډه غږ یې ځواب راکړ: ډېره بده ورځ وه، یو موټر خلک، ښځې او ماشومان له مرګ سره مخ وو. باید مرستې ته یې ورغلی وای. انسان په یوه ورځ پیدا دی او په یوه ورځ فنا.
په ټوکه مې ورغبرګه کړه: ښه نو ته وایې چې ښه کار دې کړی؟
-خود، بیا یې هم کوم.
له دې سره موږ دواړو وخندل او دی اوږد ټوخي پسې واخیست....
بې‌اختیاره مې سترګې له اوښکو راډکې شوې او داسې مې وانګېرله چې یو ډېر ارزښتمن انسان او ښه دوست له لاسه ورکوم. سترګې مې ژر پورته ونیوې، د دې له‌پاره چې د نصیر راته پام نه‌شي. بیا مې ځنې وپوښتل: هغه ورځ مې چې ولید، تبه یې لږ وه او استواره معلومېده، ځنګه یو ناڅاپه داسې په عذاب شو؟
نصیر یې مخ ښېښې ته کړ. داسې ښکارېده چې د ده هم راته پام شوی و او ژړل یې. پوزه یې کش کړه، ژوره ساه یې واخیسته: هو دا څو ورځې یې لږ لږ تبه وه. په هغه ورځ تندي ډېر وارخطا کړی و. همدا چې روژه یې ماته کړه، نو په اوبو کې یې ښه ډېر یخې واچاوه. ما ورته وویل چې ډېرې یخې اوبه مه‌څښه، خو ده وویل: پرېږده، ټوله ورځ تږی وم. په زړه کې مې سم اور بل دی.
لا نیم ساعت نه‌و تېر شوی چې وضعیت یې خراب شو او خوا یې راوګرځېده، له دې سره سم بې‌سده هم شو. په بیړه مې موټر چالان کړ او روغتون ته مې راورساوه. روغتون ته چې ورسېدو، نو تا ته مې

زنګ وواهه.

نصیر چوپ شو، نوره کیسه راته معلومه وه.

ماښام ناوخته د حاجي صاحب له ټلیفون راته زنګ راغی:

-بلې، بلې!

-له هغې خوا غږ راغی، بلې!

-حاجي صاحب ناروغي دې څنګه ده؟

-بلې! نصیر یم، د حاجي صاحب وضعیت یو ناڅاپه خراب شو او روغتون ته مو راوړی.

-دا څه وایې؟ کوم روغتون کې یاست، زه همدا اوس ځان در رسوم.

- ماښام مو د کلات ښار کلینیک ته راوړ، خو هغوی ځواب راکړ او اوس مو د کرونا روغتون ته راوړی دی.


- بس زه په څو دقیقو کې درغلم.

نصیر د حاجي صاحب کشر ورور و. ما له ځانه سره وویل چې باید ځان ورورسوم. کله چې روغتون ته ورغلم، هلته یې اجازه نه‌راکوله او ویل یې چې تاسو دننه نه‌شئ تللی.

ما ځان ورمعرفي کړ او ومې ویل چې زه په خپله هم ډاکټر یم، په دې پسې یې د کرونا محافظتي جامې، ماسک او دستکشې راکړې او د روغتون عاجلې خونې ته ور دننه شوم. له بده مرغه چې د حاجي صاحب حالت ډېر خراب و، د پښو د ګوتو نوکان یې تک شنه اوښتي وو. زه پوه شوم چې د اکسیجن کمی دی. تر څنګ ولاړ ډاکټر ته مې وویل: ډاکټر صاحب ناروغ اکسیجن ته عاجله اړتیا لري، هسې نه چې له لاسه یې ورکړو.

ډاکټر لاسونه پر ملا ټینګ ونیول او ژوره ساه یې واخیسته، بیا یې وویل: اکسیجن به ورته چالان کړو، خو وروروجانه که کندهار ته یې





ورسوئ ښه به وي. هلته د عینو مېنې روغتون د همدې ناروغانو لهپاره ځانګړی شوی دی. مور، نه پوره وسایل لرو او نه هم د ناروغۍ په اړه راته سمې لارښوونې شوې دي. نو هسې ولې ستاسو وخت ضایع کړو.

روغتون یو امبولانس او یو روغتیاپال راسره کړل او څه باندې درې ساعته مو په خامه سړک مزل وکړ. په لاره کې، د حاجي صاحب تنفسي ستونزه بیخي ډېره وه او د امبولانس په تذکره کې پورته پورته غورځېده. نهپوهېدم چې دومره اوږد مزل ورته ښه دی او که نه؟ کندهار ته وړل به ورته ګټور وي او که نه؟ له همدې پوښتنو سره مې ذهن مشغول و چې بالاخره کندهار ته ورسېدو.

***

د عینو مېنې په روغتون کې حاجي صاحب ته ټوله شپه اکسیجن چالان و. تر سهاره مو اټلس ډبې اکسیجن ورته ورکړل. زه ټوله شپه ورته مخامخ پر چوکۍ ناست وم او د هغه یوې خبرې مې په غوږونو کې انګازې کولې چې ویل یې:« د زمري په خوله کې یم!»

هغه په رښتیا هم د زمري په خوله کې و. ایا له زمري د مهربانۍ تمه، لیونتوب نهدی؟ هیچاته نهوه معلومه چې کرونا څومره بېرحمه ده، ښایي ترهغې به هم ډېره بېرحمه وه چې مور فکر کاوه.

ډېره سخته شپه وه، خدای تېره کړه. په سبا یې د حاجي صاحب وضعیت لږ څه ښه شو او په خبرو راغی.

ومېپوښته: حاجي صاحب څنګه یې؟ د اکسیجن کڅوړه یې له خولې لرې کړه او شمېرلي شمېرلي یې راته وویل: ځان مې سخت درد کوي، لکه په رګونو کې مې چې ازغي راټوکېدلي وي، چوخ چوخ کېږي.

-که خدای کول نور په ښه کېدو یې، تشویش مهکوه.

-هه،هه خوله مې ډېره ترخه ده، ساه چې اخلم هه، هه، هه، ټول



وجود مې ورسره درد کوي.

-بس له ډېرې تبې دې خوله ترخه ده، همدا چې تبه دې ختمه شي، د خولې خوند دې هم ورسره ښه کېږي.

سترګې یې د منلو په دود پټې کړې.

له دې سره ټول ډاډه شوو چې خطر یو څه را کم شوی دی.

اته که نهه ورځې وروسته مو له عینو روغتون څخه یوه خصوصي روغتون ته یووړ او لس ورځې مو هلته تېرې کړې.

وضعیت به یې کله لږ ښه شو او کله به داسې و چې تا به ویل همدا اوس ساه ورکوي. په دې ماښام یې نوکان هم تک تور واوښتل او بدن یې شینوالی پیدا کړ. ډاکټر یې سرته ولاړ و، زما لهپاره هم دا نوې تجربه وه چې دغسې ناروغ او ناروغي وینم. ډاکټر ته مې وکتل، هغه هم د نه په علامې سر وخوځاوه او پوه یې کړم چې د ناروغ وضعیت په اړه څه نهشي ویلی. مور دواړه ډاکټران وو، خو د کرونا ناروغۍ په وړاندې داسې بېوسه وو چې هېڅ مو نشو ویلی.

ډاکټر له خونې ووت، خو زه لاهم د حاجي صاحب پښو ته ولاړ وم.

لس دقیقې لا نهوې تېرې چې په حاجي صاحب بیا حمله راغله او وضعیت یې خراب شو. ساه یې بنده بنده کېده او په چپرکټ کې به پورته پورته غورځېده. شاوخوا یې په وارخطایۍ سترګې اړولې رااړولې. د اکسیجن کڅوړه یې بیا له خولې راوښوییده. ما په ډاکټرانو پسې ور غږ کړ. هغوی هم په منډه راغلل او شاوخوا له کټه راتاو شول. د حاجي صاحب تنفس بیخي سخت شوی و، ډاکټرانو ډېره خواري او کوښښ وکړ، خو د حاجي صاحب پوره وه، بدن یې مقاومت پرېښود، کرار کرار غلی شو او ساه یې ورکړه.



**ډله ییز معافیت**

ډاکټر د توت ونې لاندې ناست و. له لرې مې له خندا په ډکه خوله ورغږ کړ: یاره ډاکټر صاحب، زما خو زړه نه‌و چې راشم، خو ستا زنګونو او د توتانو مینې، راوستم.
ډاکټر هم وخندل. ولې څه خبره ده، په څه رانه مرور یې؟
- مرور نه‌یم، نوی نوی له والګي رغېدلی یم، ویل مې هسې نه چې تاسو هم پرې اخته شئ.
- راځه راځه زه یې هم نیولی یم، په دې توده هوا کې والګی له کومه شو، بس همدا کرونا بدمرغه ده.
- نه بابا، زه ډېر احتیاط کوم.
- وه هلکه، لږ توتان خو راوړه!
وړوکې زوی یې، په پتنوس کې مینځلي توتان راوړل. هملته د ونې تر سیوري ورته کېناستو، ډاکټر په مزه مزه وربانډې بنا

وکړه.
ما ویل: توتان مو په اوبو کې ډېر اېښي، لکه چې خوند یې اوبو وړی.
- رښتیا وایې که ټوکې کوې؟ ولاکه داسې خواره توتان په ټول کندهار کې پیدا کړې.
له دې سره لږ شکي غوندې شوم، له ځان سره مې ویل: هلکه هسې نه چې رښتیا کرونا وي.
ډاکټرحفیظ مې اندېښنه یو څه رازیاته کړې هم وه چې ویل یې: په دې گرمه هوا کې والگی له کومه شو، زه خو وایم چې همدا کرونا سبیل‌مړې به وي.
بالاخانې ته ورغلم، مېرمنې مې خیاطي کوله.
- ستړې مه‌شې!
- ته ستړې مه‌شې.
- زه به د کور په کارونو څه ستړې وم؟ ته خو چې په دې دوو زینو کې راوختې، داسې ستمی دې کاوه لکه ښه درونډ بار چې دې په شا وي.
- د کور کار تاته کار نه‌ښکاري؟ خومره چې د کور کارونه ستړي‌کوونکي دي، زما کارونه نه‌دي.
-ښه نو بیا ته ولې ستمي کوې.
-ولا څه ووایم. دا څو ورځې داسې ستړی کېږم لکه ښه بوډا شوی چې وم. تمه مې وه چې راته ووایې ولې به بوډا یې، خدای دې مه‌زړوه! یا هم بله ډاډمنه خبره.
خو دې مې خبره په جدي توگه راغبرگه کړه او ویې ویل:
- بوډا لا هغه وخت وې چې ما درسره واده وکړ، خو پخوا داسې نه ستمېدې. یو ځل ډاکټر ته ورشه.



حیران مې پسې وکتل، خوی یې بدل شوی و. هغه پخوا دومره بې‌حوصلې نه‌وه. د ماشین پر لور ورغلم، هلته تر څنگ یې د نویو زېږېدلو ماشومانو له‌پاره گنډلې جامې پرتې وې. زړه مې یو دم په ټوپونو شو، هغه مېندواره وه.

په سبا یې لاړم او د کرونا ټسټ مې ورکړ. د کلینیک مسوولینو راته وویل چې ځواب ته یې څو ورځې په تمه شم. زه هم چې کور ته ورسېدم، نو سمدلاسه مې ښځې ته مې وویل چې کوټه بېلوم، ځکه هغه له مودې انتظار وروسته مېندواره وه. ما نه‌غوښتل چې د کرونا له گواښ سره مخ شي او خدای مه‌کړه ماشوم ته څه زیان ونه‌رسېږي.
ماښام یې په برنډه کې ترکاري پاکوله، ما پرې له لرې ورغږ کړ: سر له همدا نن شپه زه پاس په بالاخانه کې ویده کېږم او د خوړو لوښي مې هم بېلوم. زما والگی راته بل ډول ښکاري، هسې نه چې کرونا وم.
- دا هسې خبرې دي سړیه، زه خو دې دا څو وخته وینم چې زگېروی کوې او وایې چې پښې او ځان مې خوږېږي. که یې نیولی اوس به یې وختي لا نیولي وم. هسې مې مه ډاروه.
-گوره ښځې دا خبرې د ټوکو نه‌دي، سبا به په لوی غم اخته وو.
-ته یې وایه، خو زه دا نخرې نه‌شم زغملی. چېرته چې ته یې هلته به زه هم وم. که ته نه‌وې، نو زه په ژوند باندې څه کوم.
د شپې به چې مې مېرمن ویده شوه، نو زه به کرار له کټه راښکته شوم، او په غولي کې به مې ځانته روجایي وغوړوله او ویده به شوم.

سهار به چې راپاڅېدم، نو وبه مې لیدل چې مېرمنه هم په غولي راسره غځېدلې ده.


زه ورو ورو مخ په ښه کېدو وم، خو د کرونا ټسټ مې مثبت ختلی و، ما ګومان کاوه چې د افغانستان غوندې وروسته پاتې ټولنو کې ډله‌ییز معافیت د کرونا سره د مبارزې په برخه کې ګټور ثابتېدلی شي.

له دې سره د ټولنې ټول وګړي په ناروغۍ اخته کېږي، خو سوکه سوکه ټولنه د ناروغۍ پر وړاندې یو ډول معافیت پیدا کوي، لکه ټولو ته چې واکسین تطبیق شوی وي. همدا وجه وه چې له مېرمنې سره مې د قرنطین او واټن رعایتولو په اړه هم ډېر بحث نه‌کاوه. زه پوهېدم چې د مرض د انتقال لارې ډېرې دي او ډېره سخته ده چې په یوه کور کې دې یو تن کرونا ولري او نور دې پرې اخته نه‌شي. بله د ډاډ وړ خبره دا وه چې ما به په ټلویزیون کې د کرونا په اړه ټول خبرونه اورېدل او په فیسبوک به مې هم هر سهار او ماښام د کرونا په اړه خپاره شوي لیستونه او خبرونه لوستل. خلکو به ویل چې کرونا ناروغي په مېندوارو مېندو کومه ځانګړې اغېزه نه‌لري.

په هغه ماښام مې هم اول د کندهار ټلویزیون خبرونه واورېدل، بیا مې په فیسبوک کې خپاره شوي خبرونه وکتل. په خبرو خبرو کې مې مېرمنې ته هم وویل چې دومره کسان کرونا نیولي او دومره ترې بېرته رغېدلي دي. مېرمنې مې هم زما په څېر هر خبر ته ښه په ځیر غوږ نیولی و. بیا یې راته وویل:

-که داسې دم په دم د مړینې خبرونه ډېرېږي، نو موږ یو به هم ژوندي پاتې نه‌شو.





-ولا خبرونه خو همداسې وایي.
- نن د روغتیا وزیر هم ویل چې ښایي د افغانستان نیمایي خلک په کرونا اخته شي. خدای دې ټولو ته خیر پېښ کړي.
- ته ډېره اندېښنه مه کوه چې په ماشوم باندې مو بده اغېزه کوي، بس څه چې خدای غوښتي وي، هغه به کېږي.
- زه هم همدا وایم خو کله کله مې اندېښنه رانه خوب وتښتوي.
همدا اوس مې شپې ته سترګې سپینې دي چې څنګه به خوب کوم، ټوله شپه مې په ویښه تېرېږي چې هسې نه کرونا مو له یوه سره مړه نه‌کړي.
د شپې کابو یوه بجه وه چې ښځې مې راباندې غږ کړ: سړیه، وه سړیه تاته وایم، ویښ یې که نه؟
نیغ راکېناستم: څه خبره ده، هو ویښ یم، خیر خو به وي؟
- نس مې ډېر بد خوږېږي، وایم تر سهاره مې درد نور هم ډېر نه‌شي. یو ځل دې لنډ کلینیک ته ورغلي نه‌وای؟
-سمه ده، ته ځان تیار کړه او زه به همدا اوس موټر چالان کړم.

- د نیلو پایواز څوک دی؟
-زه یم، ډاکټر صاحب وضعیت یې څنګه دی؟
- څه نه‌شم ویلی، اول یې باید معاینات تکمیل شي، اوس دغه دوا راوړه چې مور یې نه‌لرو.
- سمه ده ډاکټر صاحب، همدا اوس یې راوړم.
دوه ګامه مې لا نه‌و اخیستي بېرته وروګرځېدم: ډاکټر صاحب ماشوم ته خو به یې خطر نه‌وي؟
- ما وویل چې اوس څه نشم ویلی.
په بیړه لاړم او دوا مې راوړه.



شپه مې په همدې منډو کې سبا شوه. سهار کلینیک ته نور ډاکټران هم راغلل او زما لږ تمه پیدا شوه چې که خدای کول په ماشوم او مور دواړو به څه نه‌کېږي.
څو شیبې وروسته د ډاکټرانو منډې رامنډې ډېرې شوې او نیم ساعت به لا نه‌و وتلی و چې یوه نرسه راووته او ورمنډه مې کړه: خورې، خورې! مریض مې څنګه دی؟
نرسې سر ښکته اچولی و، نسخه یې راته ونیوه او پسې زیاته یې کړه: دواړه ماشومان یې زیان شول، خو مور یې یو څه ښه ده. دا درمل راوړه چې پکار دي، هله ژر کوه.
سر راباندې وګرځېده. دا څو کاله مور د اولاد په تمه وو او دا ځل چې غبرګوني وو، په نصیب مو نه‌شول.
دوا مې راوړه او کوټې ته ورغلم. سترګې یې راوغړولې.
- څنګه یې؟
په ژړا سر شوه او مخ یې رانه‌واړاوه.
- ډاکټرانو ویل چې دوه وو.
- زه او ته دې ژوندي وو. خدای مهربانه دی. په دې دنیا کې له دې درانه غمونه هم شته، خدای دې نه‌راښیي.
زه اوس هم کله کله ورته وایم که واټن مو رعایت کړای وای او زه قرنطین شوی وای، نو دا بده پېښه به نه‌رامنځ ته کېده، خو دا راته وایي چې ماشومان مو کرونا نه‌دي وژلي، بلکې دا زما بې‌ځایه وېره او د کرونا له امله اندېښنه او تشویش وو چې ماشومان یې راځنې واخیستل.



# بې ګهیځه شپه

سمینې، وه سمینې!
- هـه، ببـو څـه وایـې؟ دلتـه پـه دالان کـې یـم، پـه تنـاره ډوډۍ پـورې کوم.
- ګـوره، هغـه د شـکور تـر څنـګ مـې درتـه پـه کاسـه کـې لـړ سـابه ایښـي، لـه هغـې یـو- دوه پیرکـي درسره پاخـه کړه. پـرون د نـور بي بي لمـسي ویـل چـې د انـا یـې تبـه ده. پوښـتنې تـه بـه یـې ورشـم او دا بـه هـم راسره یوسـم.
-ښه ببو، وامې وربېدل، په اخر کې به یې درته پاخه کړم.
-ښاده شې لورې، سرتوره مه‌شې!
نـور بي بي یـې پـه عمـر همزولـې او د ښـو او بـد ورځـو ملګـرې وه. د دواړو کورونـه سره لـړ لـرې، خـو زړونـه یـې سره ډېـر نـږدې وو. د هغـوی مېړونـه سره تربـوران وو، خـو د دوی دواړو ملګرتیـا داسـې وه لکـه د دوو سـکه خوینـدو.

کلیوالو به د دوی د خوږوالي مثالونه ورکول. کله به چې په کلي کې کوم واده شو او دوی دواړه به یو ځای سندرو ته کېناستې، نو د سندرو په منځ کې به یې دا ټیکی خامخا ویله:

اواز زما په اواز وایه
خلک به وایي جوړه خویندې ناستې دینه

نږور یې پیرکي په دسترخوان کې ونغښتل او د کوټې په کړکۍ کې ودرېده. لا یې په ببو غږ نه‌و کړی چې د جومات په لوډسپیکر کې اواز شو:

-اعلان، اعلان، اعلان.

ببو یې په نورو خبرو پوه نه‌شوه. په نږور یې غږ وکړ: دا یې څه وویل، د اذان وخت خو نه‌دی. خدای دې خیر کړي، بیا خو به څوک مړه نه‌وي؟

نږور یې په ژړغوني غږ ور زیاته کړه: لکه چې ملګرې دې عمر دروباښه!

له دې خبرې سره د ببو په زړه کې ازغی مات شو، اخ یې کړل او د دروازې پر لور چټکه شوه.

دا چې دا اوږده لاره یې څنګه څو ګامه کړه، دا هم پرې ونه‌پوهېده. په ټوله لاره یې ارمان کاوه چې ولې یې پرون د نور بي بي پوښتنه ونه‌کړه.

د مړي په کور کې ډېره ګڼه ګوڼه نه‌وه. نور بي بي چې په کومه ناروغۍ مړه وه، نښې یې د کرونا ناروغۍ وې. ډاکټرانو ویلي وو، تر هغه پورې چې له کابله د ټسټ نتیجه راځي، څوک دې کوټې ته نه ور دننه کېږي او خواړه دې په جلا لوښو کې خوري.

د کلي ښځې د مړي د لمبولو له‌پاره د اوبو په تودولو لګیا وې.



د نور بي بي لمسی چې د طب پوهنځي د لومړي کال محصل و، په لوړ اواز د تره ښځې ته وویل:

-کاکا ناوې! ډاکټران وایي چې په دې مرض مړه کسان دې څوک نه‌لمبوي، ځکه چې نورو ته ورځي او علاج یې هم نه‌شته دی. په دې پسې هلک له انګړ ووت او اوجرې ته چې له انګړ سره دیوال په دیوال جوړه شوې وه، دننه شو. په اوجره کې ګڼ کلیوال راټول وو او د کلي مولوي صاحب چې د دوی خپلوان هم و، ورته واعظ او نصیحت کاوه. مولوي صاحب د هلک په لیدلو یو ځل بیا غاړه تازه کړه، څو شیبې یې د دنیا او اخرت په اړه وینا وکړه، بیا د انسانانو په ښو او بدو اعمالو تم شو او ورپسې یې د عذاب او ثواب خبره وکړه. له دې وروسته یې د نور بي بي ښه کړه وړه، په کلي کور کې ښه چلند او راشه درشه یاد کړل او هغې ته یې د مغفرت دعا وکړه. په اخر کې یې د هغې لمسي ته مخ کړ او ویې ویل: هلکه ستا خبره مې تر غوږ شوه، ډېره پر ځای وه، ښځې د مړي له لمبولو راوګرځوه.

بیا یې نورو کلیوالو ته مخ کړ او زیاته یې کړه: د دغسې خطرناکو مرضونو په سبب چې څوک ومري، هغوی خاص شهیدان وي. که زما منئ او لکه څنګه چې ډاکټران وایي دغسې مړي مه‌لمبوئ، ځکه د مسلمانانو په زیان تمامېږي، په دې باندې مو الله تعالی نه مواخذه کوي.

مولوي صاحب چې خپلې خبرې پای ته ورسولې، له اوجره ووت، ورپسې نور کلیوال نارینه هم رهي شول او یو یو لاړل.

ببو چې د انګړ له دننه څخه د مولوي صاحب خبرې اورېدلې وې، په لوړ غږ وویل:

نجونو ورشئ او اوبه تودې کړئ، زه یې لمبوم، ما دې مرض

ونیسي او مړه مې دې کړي.

ساعت پس مړی ولمبول شو، کفن شو او څو چې د ماسپښین لمونځونه قضا کېدل، خاورو ته هم وسپارل شو. څو تنه نږدې خپلوان چې د جنازې لهپاره راغلي وو د خپلو کورونو پر لور وخوځېدل.

زنانه هم یوه یوه خپلو کورونو ته روانې شوې. ببو یې نږور ته مخ کړ او په نیولې ژبه یې وویل:

هـ هډونه مې درانه شول.

- په لاسونو کې دې زور نهشته، په یوازې ځان دې مړی ولمباوه، ستړې شوې.

- نهپوهېږم.

- کور کې به لږه جوشانده درته جوړه کړم چې دمه دې پرې جوړه شي.

- نه لورې، ته له ما لرې ګرځه، که دا بدمرغه مرض وي چې تا راته ونهنیسي.

- نه ببو، داسې ژر به هم څوک نهنیسي. خلک وایي چې څو ورځې وروسته د مرض علامې راښکاره کېږي.

- زما په عمر کې څه نهدي پاتې. نور بي بي له ما څو میاشتې کشره وه. په ټول کلي کې زما په منګ ښځه نهده پاتې. تر کومه به ژوندۍ وم؟ هغه بله ورځ مو تر ماښامه کیسې وکړې. ویل یې دا څو شپې ټوخېږم. له ما سره د سره پاکټ یوه ګولۍ وه، هغه مې ورکړه. سبا مې لیده چې غوا یې تر پړي نیولې وه، ویل یې ګولۍ دې داسې ښه رابانډې ولګېده چې ټوله شپه مې ټوخ هم نهدی وهلی، خو دا دی نن یې په ترلې زنه راغلم. موږ اوس زاړه یو او هغه د چا خبره د لمدو ختو لږ اوبه دارو دي.



په هماغه ماښام ببو د کټ شوه او څومره چې شپه پخېده د هغې تبه هم پسې زیاتېده. زوی یې چې خبر شو د اکا ناوې مړی یې ببو مینځلی، نو ښځې ته په غوسه شو:

- تا ولې پرېښوده؟ ټوله ورځ راډیو ته ناسته وې او اورې چې وایي دا مرض څومره خطرناک دی.

ښځې یې په ډېر افسوس ورغبرګه کړه:

- زه چې تر څو ورتلم، مړی یې مینځلی و. ټولو ورته ویلي وو چې مه یې لمبوه، خو ببو د چا نهوه منلې.

د دوی دواړو په خبرو ببو خپلې سترګې وغړولې، دواړو ته یې وکتل او بیا یې سر وښوراوه. د ببو نهخوښېدل چې زوی یې له نږور سره تندي او لانجه وکړي او یا ورته په غوسه شي.

زوی یې سوړ اوسیلی وایست او بیا یې وپوښتل:

- ببو څنګه یې؟

- نوره نهپوهېږم، خو په زړه کې مې سمه د اور لمبه راګرځي، خوله مې هم ډېره ترخه ده، لکه زهر چې مې خوړلي وي.

نږور یې، ورمخته شوه او په لوړ غږ یې وویل:

- ببو شیدې مې درته تودې کړې دي، یو دوه غړپه څنې وڅښه، بیا به یوه پرستامول هم پسې وخورې، له سهار راهیسې دې هېڅ نهدي خوړلي.

- لرې یې کړه، نه یې خورم، زړه مې د دنیا له هر څه موړ دی. بیا یې په لاس دواړو ته اشاره وکړه چې پوزه او خوله مو وتړئ. زوی یې د هو په علامه سر وخوځاوه، خو نږور ته یې دا عیب ښکارېده چې خوله پټه کړي. که چا لیدلې وای چې دې له خپلې ناروغې خواښې خوله پټه کړې، بیا د خلکو له پېغورونو نهخلاصېده.



زوی یې د ښځې لـه لاسـه گیلاس واخیسـت او د ببـو خولـې تـه یـې ورنـږدې کـړ. ببـو چـې پـوه شـوه، زوی یـې هـرو مـرو شـېدې وربانـدې ځښـې، سر یـې لـږ راپورتـه کـړ. زوی یـې لاس د هغـې تـر سر لانـدې کـړ او دې هـم پـه دمـه دمـه څـو گوټـه ځنـې وکـړل. شـیدې یـې داسـې تېـرې کـړې لکه کـوم ښـه کلک او سـخت خـواړه چـې تېـروي. سـتونی یـې پـرې خوږېـده. په شـیدو پسـې یـې زوی د پراسـتامول یـوه گولـۍ هـم پـه خولـه کـې ورکـړه هغـه یـې هـم ډېـره پـه سـختۍ تېـره کـړه، یـو غـړپ اوبـه یـې پسـې وڅښـلې او بېرتـه یې سر کېښـود.

ببـو پـه ډېـره سـختۍ سـاه اخیسـته، نـږور تـه یـې داسـې وکتـل لکـه څـه چـې تـرې غـواړي. هغـې بیـا د شـیدو پیالـه ورمختـه کـړه:

- تـه خـو لـږ نـورې شـیدې هـم وڅښـه، لـږ بـه ورسره اسـتواره شـې.

دا دې کـه زړه تـه نه‌کېـږي، نـو یخنـي بـه درتـه وکـړم. کـه تبـه دې لـه ډېـرې سـتړیا وي، نـو دسـتې بـه ورسره ښـه شـې.

ببو یې سترگې پټې کړې او سر یې وښوراوه.

- هېـڅ مه‌کـوه، زړه تـه مـې نه‌کېـږي لـورې، سـینه مـې داسـې درد کـوي لکـه تبـږه دې چـې وربانـدې ایښـې وي.

تـه خـو دې دا خولـه او پـزه پټـه کـړه او ماتـه مه‌رانـږدې کېـږه. مـا خـو خپلـه ومنلـه او بـس بې بې مـې ولمبولـه، کـه دې نـوي مـرض نیولـې وم چـې تـا خـو رانـه ونه‌نیـسي. ماشـومان دې واړه دي. بیـا یـې غـږ پـه اعتراضیـه بڼـه لـوړ شـو: چاتـه یـې پرېـږدې!؟

څـو شـیبې وروسـته چـې د ببـو تبـه لـږ سـپکه شـوې وه، نـو زوی تـه یـې مـخ کـړ:

- پاڅـه، ورځـه ویـده شـه، اوس ښـه یـم. تـر سـبا بـه رکـه



روغــه شـــم.

ورو ورو د ببـو سـترگې درنـې شـوې او خـوب ورغـی. زوی یـې هـم د کوټـې پـه بـر سر کـې بالښـت سـم کـړ او سر یـې پـرې ولـگاوه.

ښځې ته یې وویل:

ورځـه تـه هـم ویـده شـه. همـدا چـې سـترگې څـار وکـړي د جاویـد موټـر بـه راوغـواړم او کلینیـک تـه بـه یـې ولېـږدوم.

ښځې یې ورته وویل:

لـه وردگـو تـر کابلـه دومـره لاره نـه ده، کـه زمـا منـې نـو سـبا یـې کابـل تـه بـوزه چـې هلتـه یـې سـم عـلاج یـې وشي.

لـه سـپیده داغ سره یـې زوی راویـښ شـو. پـه دهلېـز کـې د پښـو ترپـا وه، د کوټـې ور راخـلاص شـو. ښـځه یـې وه:

- ببو څنگه ده؟

-اوس خو لږ کراره ده.

-اوبه مې درته ایښې دي که اودس کوې؟

- ته صبر چې یو ځل ببو وگورم.

سـترگو ځـیر نـه‌کاوه د ټلیفـون څـراغ یـې بـل کـړ، ورنـږدې شـو او مـخ یـې پـرې لـوخ کـړ.

د ببـو پـر ټنـډه یـې لاس کېښـود، تـوده وه، خـو بې‌سـیکه ورتـه ښـکاره شـوه. لاس یـې د زړه پـر سر کېښـود. زړه یـې کـرار و. سـړی وار لـه واره پـه سـلگو شـو:

-ببو مې، زړه یې نه‌غورځي.

تـر څـو چـې د بریځـر تنورونـه تودېـدل د ببـو مـړی یـې خـاورو تـه سـپارلی و.




متمدنه اوسه

کله چې د افغانستان ولایتونو ته د کرونا ناروغۍ په اړه د پوهاوي ټیمونه ورسېدل، نو زموږ د ولسوالۍ کلینیک هم چې د غزني په لیرې ولسوالۍ کې موقعیت لري، د کرونا سنټر په توګه فعال شو. په هغه ورځ یې چې راته ټریننګ راکاوه، راته یې ویل چې دنده به مو ډېره سخته وي او کېدای شي په ورځو او میاشتو هم خپله کورنۍ ونه وینو. دا په دې معنا نه وه چې موږ به هغوی نه لیدل، بلکې په کور کې مو باید خپلې کوټې، له هغوی بېلې کړې وای او واټن مو ورسره ساتلې وی. زه خو وایم ډاکټري او روغتیایي خدمتونه داسې دنده نه ده چې سهار دې شروع او ماښام دې ختمه شي، بلکې دا داسې یوه سپېڅلې وظیفه ده چې کله دې پیل کړه، نو ټول عمر به د خلکو خدمت کوې. زه که په واده کې وم، که په کور کې، که د سړک پر سر، که

په موټر کې وم، بیا هم یوه ډاکټره یم. همدا چې څوک ووینم کومه صحي ستونزه لري، بیا راځنې هېر وي چې راباندې ناوخته کېږي یا مې ماشوم ژاړي او یا هم ستړې یم، بس ناروغ ته ولاړه یم او خدمت یې کوم.
مګر له دې ټولو سره سره، دا راته ډېره سخته وه چې باید له خپلې کورنۍ لرې وم او واټن ځنې واخلم، له ځانه سره مې وویل: له دې خو بیخي نه‌لیدل ښه وي، په یوه کور کې اوسه، خو له ټولو لرې، دا نو څرنګه زندګي شوه؟!
په هغه شپه مې تر سهاره پورې سترګې پټې نه‌شوې، دوه‌زړې وم چې ایا په کرونا سنټر کې کار وکړم او که نه؟ خبره دا ده چې کله واده شوې، نو یوازې د ځان لپاره ژوند نه‌کوې، بلکې لومړی مېړه او بیا وروسته درته ماشومان د ژوند یوه برخه ښکاري.
له ما سره همدا اندېښنه وه چې ایا زه خو به په خپل دغه کار دوی له خطر سره نه مخ کوم او که څنګه؟ کشر زوی مې تازه په تازه په دوه‌کلنۍ پل ایښی و او داسې شیرینې شیرینې خبرې یې کولې چې له هرې یوې مې یې ویډیو اخیستې او بیا مې په وار وار د تنهایۍ پرمهال کتله او په ځلونو ځلونو به ترې ځارېدم او قربانېدم. خو اوس مې که په دغه کار بنا کړې وای، نو خدای خبر چې تر څه وخته به ترې لرې وای او که خدای مه‌کړه کومه بده پېښه راته پېښه شوې وای، نو د همېش لپاره به مې د زوی له شیرینو خبرو بې‌برخې وای. بل پلو په ټول روغتون کې همدا مونږ درې تنه ښځینه ډاکټرانې وو، له دغو دریو هم یوه مېندواره وه او په کرونا سنټر کې یې دنده نه‌شوای کولای، اوس نو مونږ دوه تنه پاتې کېدو او ټول راغاړې مرکز.



ډېره زړه نازړه وم چې بالاخره څه وکړم، فقط مېړه مې(فرید) ډاډ راکاوه چې له تصمیمه مې هرکلی کوي او څنګ په څنګ به راسره ملګری پاتې شي. هغه ان وویل که په کرونا سنټر کې کار کوې، نو د ماشوم غمه مه‌کوه، زه به تر هغه ورسره پاتې وم چې ته بېرته راشې، یا به یې ډاډ راکاوه چې اخلی پخلی به څنګه کوي او کور به څنګه پاکوي.
په همدغو ورځو شپو کې مې په یوه مجله کې یوه لیکنه لوستې وه چې ډېره ترې اغېزمنه شوې وم. لیکنه په لاندې جملو پیل او پای ته رسېدلې وه:
«د ټولنیزو علومو له یوې پروفیسورې مارګریت مېډ څخه کلونه مخکې د هغې یوه محصل پوښتنه وکړه چې په انساني فرهنګ کې د تمدن لومړنۍ نښه څه وه؟ د محصلانو تمه دا وه چې پروفیسوره به د ژرندې ډبرو، ختینو لوښو یا هم د کب‌نیونې جال په څېر شیزونو یادونه وکړي، خو نه! مېرمن مېډ دا یو هم یاد نه‌کړل، بلکې ویې ویل: په فرهنګ کې د تمدن لومړنۍ نښه د ورانه مات هډوکی و چې بېرته ورغېد.
مېرمن مېډ زیاته کړې وه: د ژوو په نړۍ کې که د چا پښه ماته شي، نو هغه مري. ځکه هغه له خطره ځان نه‌شي ژغورلی، په خوړو پسې نه‌شي تللی او د اوبو څښلو لپاره د اوبو لور ته نه‌شي ورتللی او په دې توګه د نورو داړونکو ژویو خوراک شي. هېڅ ژوی د هډوکي تر رغېدو پورې ژوندی نه‌شي پاتې کېدای. خو که د یوه انسان د ورانه هډوکی جوړ شوی وای، دې کار ډېر وخت غوښت. ځکه دغه کس باید د یوې مودې لپاره ځای پر ځای پروت وای او حتماً یو بل انسان و چې هغه یې یو امن ځای ته رسولی دی، د هغه پالنه یې کړې ده او د هغه په

ښــه کېـدو کــې یــې مرسـته کـړې ده او همــدا وخــت و چــې تمـدن
پیـل شـو. زمـوږ تـر ټولـو ښـه وخـت هغـه وخـت دی چـې د نـورو
پـه خدمـت کـې یـو. نـو متمدنـه اوسـه!»



سبا مې سل زړونه یو کړل او خپل نوم مې د کرونا سنټر برخې په روغتیاپالو کې ولیکه. که رښتیا ربانډې وایې، نو یوازې له کورنۍ څخه د لرې والي خبره هم نه‌وه، زه په خپله هم له دغې بدمرغۍ او سپېرې ناروغۍ، داسې ډارېدم چې پوښتنه یې مه‌کوه.

یوه هفته به لا نه‌وه تېره چې د غزني له ښاره مې د مشر ورور زنګ راغی.

زما چې زړه ډېر تنګ و، وار له واره ورته په ژړا شوم. زړه مې په یو ډاډ پسې ګرځېده چې ګومان مې کاوه مشر ورو به یې راکړي.

-لالا جانه ما د کرونا په سنټر کې وظیفه واخیسته، دعاوې راته کوئ.

ورور مې په چیغه راغبرګه کړه: څه وایې، کرونا سنټر کې دې وظیفه واخیسته؟ ولې لوږې پسې اخیستې یې؟ د څو پیسو له‌پاره ځان وژنې؟!

وار له واره مې ژړا ودرېده او ورته مې وویل: نه لالا داسې خبره نه‌ده، د ماشومانو پلار هم راسره ومنله. په ډاکټرۍ کې خو دا خبرې راځي.

- هغه خو همداسې بې غیرته دی، پیسې دربانډې راټولوي. د مرګ او ژوند پروا دې نه‌شته ورسره.

-ګوره لالا دلته خو لرې ولسوالۍ ده، په ټول کلینیک کې موږ دوې ښځې یو.

-زه دې په نورو خبرو نه‌پوهېږم، خو چې نور زموږ په وره رانه‌شې، که دې د ځان پروا دې نه کوله، نو لږ تر لږه خو به



دې د زړې مورکۍ پروا کړې وای، هغه درته څومره په اندېښنه کې ده.

له دې سره یې ټیلیفون بند کړو.

زما زړه څړیکې کولې او د مورکۍ څېره مې سترګو ته کېده. ګومان مې کاوه چې که کرونا مې مړه کړي، بیا به یې هېڅکله مخ ونه‌وینم. لیدل لا څه چې زنګ مې هم ورته نه‌شو کولای. ځکه مور مې خپل ټیلیفون نه‌درلود او کله کله چې ورسره غږېدم، نو د ورور په ټیلیفون به مې ورسره خبرې کولې.

زړه مې راډک شو او ټیلیفون مې پورته کړ او په دېوال مې وویشت. ټیلیفون په یوه شو او بیټرۍ یې په بله شوه او زه خدای خبر چې په ژړا ژړا کې کله خوب وړې وم.

د شپې مې خوب لیده چې مور مې کرونا نیولې وې او زه غوارم چې د ورونو کره ورشم او ویې ګورم، خو کشر ورور مې په دروازه کې نه‌پرېږدي. له دې سره مې د مور جنازه ګورم چې د هدېرې پر لور یې روانه کړې وي او زه یې نه‌شم لیدلی.

سهار زړه نازړه د وظیفې پر لور وخوځېدم، ټوله لار مې ورمېږ په لاس ټینګ نیولی و، خورا ډېر خوږېده. زړه مې و چې نوم مې خط ووهم او وظیفه پرېږدم.

شفاخانې ته ورسېدم. په دهلېز کې ګڼه ګوڼه وه، ورننږدې شوم یوه په عمر نسبتاً پخه مېرمن په تذکره کې پرته وه او ډاکټرانو د عاجلې خونې پر لور ځغلوله. د ښځې سترګې رڼې رڼې راختلې وې او په ډېره سختۍ یې ساه اخیسته، په سترګو کې

یې وېره او هیله وه. داسې وېره چې ما له ورایه حس کړه او
داسې تمه چې ما ګومان وکړ له ما د مرستې تمه لري.
ښځه یې عاجلې خونې ته یوړه او زه لاړم چې نوم مې خط
ووهم. په لاره کې یو اولس- اتلس کلن زلمکی په مخه راغی
چې سترګې یې اوښلنې وې. وار له وار واره یې وپوښتلم.
ډاکټر صاحب، ډاکټر صاحب! مور مې، مور مې، مور خو به
مې ښه شي؟

ځواب مې نه‌درلود، سر مې ښکته کړ او تري روانه شوم.
په اوږده دهلیز کې روانه وم، په محافظتي جامو، ماسک او
دست‌کشو کې ځان راته خوندي او له خطره بچ ښکاره شو،
تر شا مې هلک ته وکتل راته ډېر بې اسرې او بې‌وسه ښکاره
شو. لکه د دې بدمرغۍ ناروغۍ پر وړاندې ټول بې‌وسه
انسانان.
له نیمې لارې بېرته راوګرځېدم او د عاجلې خونې پر لور ورغلم،
چېرته چې یې ښځه وړې وه.

تر هغې ورځې وروسته مې ډېر داسې ناروغان ولیدل چې په
ډېر بد حالت کې یې روغتون ته راوړي وو.

د چا به نفس‌تنګي وه او څوک به په کټ کې د ساه‌لنډۍ
له کبله اړخ په اړخ اوښتل او ناهیلي سترګې به یې د روغتون
په خونه کې د مرستې په تمه سرګردانه وې، او چا به له ډېرو
دردونو شکایتونه کول او د چا به زګیروي ختل او څوک به د
تبې په سره اور کې وریتېده.



د ناروغانو شمېر ډېر وو او په اوونۍ کې به څو شپې نوکري
هم وم، کوم ماښام به چې کور ته لاړم، نو د وره د خولې په
کوټه کې به یوازې ناسته وم او فرید به راته ډوډۍ هم د وره په
خوله کې کېښوده. لورانې مې ښې وې، له لرې به یې مچکې
رالېږلې او د کړکۍ له شا به یې راته لاسونه خوځول، خو
کوچنی یوسف به مې په لیدو، په ژړا شو او له کړکۍ به نه
لرې کېدلو.

ټول مې ډېر یادېدل، خو د یوسف له‌پاره مې زړه ډېر تنګ
وو. په دې کې کابو درې میاشتې تېرې شوې او له ډېرو داسې
ناروغانو سره مې مرسته وکړه چې د ژوند وروستۍ سلګۍ یې
وې او له مرګه راوګرځېدل او ډېر داسې ناروغان مې هم ولیدل
چې د مرګ پر وخت یې ماته د تمې سترګې وې، خو ما یې
هېڅ مرسته ونشوی کړای.

نور مې له دې ډول شرایطو سره تقریباً روږدې شوې وم او هره
ورځ به مې د یوه یا څو تنو د مړینې انتظار کاوه.
تر ټولو ښه ورځ به هغه وه چې په روغتون کې به څوک
نه‌وو مړه شوي او موږ ټولو همکارانو به یو بل ته مبارکیانې
ورکولې.

تر هغې چې نړۍ لږ دمه شوه او ویل کېدل چې د کرونا
ناروغۍ لومړۍ څپه مخ په کمېدو ده.
له دې سره زموږ سنټر ته له ښاره نوي نرسه راغله. ما چې

ولیدل یو کس مې په ځای پیدا شوه، نو یوه میاشت رخصتي مې واخیسته او د لومړي ځل له‌پاره مې خپل شوخک زوی په غېږ کې ونیوه او گومان مې کاوه چې زه هم له یوې اوږدې ناروغۍ وروسته دمه شوې یم او کور او ماشومان مې راته د خدای تعالی بیا ځلي پیرزوینه ښکارېده.

نور کرار کرار عادي ژوندانه ته راگرځېدم چې یوه ورځ مې دروازه وټکېده. دروازه مې چې خلاصه کړه مور مې سپېره- مېره په وره کې ولاړه وه. له لیدو سره یې وار له واره غېږه رانه تاو کړه او د مخ یو پلو بل پلو یې ښکل کړم.

مور مې څو شیبې رانه جار او قربان شوه، خو زه له شرمه ویلې کېدم. ما مې له ورونو سره په ضد کې مور هېره کړې وه او دا درې میاشتې مې هیڅ زنگ ورته نه‌و وهلی.
زړه نا زړه مې ورته وویل: مورې جانې، له قدمونه دې جار شم، زه خپله درتلم، خو...
- زه دې له سترگو جار شم! زما زړه سواندې لورې. ورور ته مې دې هغه ورځ گیله وکړه چې زه کرونا ونیوم، خو خور مې دې پوښتنې ته رانغله؟ راته یې وویل چې تا د کرونا په شفاخانه کې وظیفه اخیستې. ما ورته وویل: ښه یې کړي!

هغه وخت چې زه کرونا نیولې وم، نو تا غوندې هوښیاره ډاکټره مې سرته ولاړه وه. ورور ته مې دې وویل چې خور دې له ما غوندې ناروغانو سره مرسته ونه‌کړي، نو څوک به یې وکړي.



هغه لیکنه به د کتاب خبره وه، خو مور مې په ډېره ساده ژبه راوښوده چې متمدنه اوسم!




# آوازې

زه د خپل وطن او شاوخوا سیمو خلک ډېر ښه پېژنم، په اسانۍ یې ښايي په خبره سر خلاص نه‌شي، خو د اړیکو په برخه کې بیا ډېر سرښندونکي او له ځانه تېر خلک دي. هو، که د یو چا د کورنۍ غړي، ملګري، اشنا، یا حتا لرې کلیوال په اړه یوه ډېره لویه خبره وکړې، دوی به یې د دفاع له‌پاره متې راونغاړي او داسې ننګه به یې کوي چې د قانون پر وړاندې به یې هم سپر جوړېږي.

دلته خپل‌منځي اړیکې تر هر څه پورته دي، تر قانون هم پورته.

دلته نه‌غواړم قضاوت وکړم چې دا ښه عادت دی او که بد، خو دا هغه څه دي چې ما په خپل لنډ عمر کې د دې خلکو په منځ کې لیدلي او زده کړي دي.

نن چې زه کومه کیسه درته کوم، نو د دې خبرو خلاف کیسه ده،

بیخي خلاف. ښایي تاسو به یې فقر وګڼئ، یا یې هم ناپوهي، لوړه یا د نړۍ په امکاناتو د انسان بې‌اعتمادي. خو زه یې په اړه هېڅ نه‌وایم او قضاوت تاسو ته پرېږدم.

کیسه داسې ده چې زه د غزني د ښار د روغتون په عاجله خونه کې دنده لرم او په هغه شپه نوکري وم.

د ماښام تیاره او خړه لا سمه نه‌وه خوره شوې چې یو سپین‌ږیری ناروغ یې روغتون ته راوړ. د ناروغ وضعیت خورا ډېر خراب و، کابو یوه اوونۍ یې په کور کې د کرونا تبې او دردونه تېر کړي وو، خو له نن سهار راهیسې یې وضعیت بیخي خراب شوی و او په ساه‌اخیستلو کې یې ستونزه لرله. ځایي ډاکټرانو په کور کې ورته اکسیجن ورکړی و، خو کومه ګټه یې نه‌وه کړې او دا دی اوس یې په دې ماښام، کرونا سنټر ته راوستی و.

مشرانو به ویل چې شپه د ناروغانو لپاره ډېره درنه وي. زه چې دلته کار کوم نو په دې خبره مې نور هم باور ډېر شوی چې شپه د ناروغ لپاره تر ورځې خطرناکه او له کړاوه ډکه وي. البته د دې خبرې لپاره کوم علمي دلیل نه‌لرم، خو د یوه عادي کس په توګه کله کله د ناروغانو په اړه له ځان سره وړاندوینه کوم او وایم چې که دا ناروغ نن شپه ژوندی پاتې شو، نو بیا نه‌مري.

کله چې نیمه شپه د ناروغانو په خونو ګرځم راګرځم او د خونو نظافت ګورم، نو وینم چې ناروغان د شپې لخوا ډېر په عذاب وي.

ښایي دا به له دې کبله وي چې د ورځې لخوا استراحت او ویده وي او د شپې لخوا یې مرض زورور کېږي او یا هم ښایي له دې کبله وي چې د شپې لخوا هره خوا چوپه چوپتیا وي او د ناروغ



ماغزه چې د همېش لپاره د شپې له ارامۍ او چوپتیا سره بلد او اموخته دي، نو تر عادي حالته ډېرې ارامتیا ته اړتیا ښيي او له همدې امله ناروغ ډېر ناکرارېږي او په همدې وجه یې ناروغي هم زور کوي.

راځم خپلې کیسې ته، هغوی هر څنګه چې وو، خو سپین‌ږیري یې تر روغتونه رارسولی و. ناروغ مو په کټ کې سم کړ، اکسیجن مو ورته چالان کړ او نور نو د ډاکټرانو کار وو چې څه درمل ورکوي او یا موږ ته څه امر او لارښوونه کوي.

له عاجل اتاقه راووتم او د تشناب پر لور روان وم چې یو ناڅاپه مې په یوه دنګ زلمي سترګې ونښتې، زلمکی د روغتون په انتظارخونه کې په چوکۍ باندې راټول ناست و. د حبیب شک مې پرې راغی، ماسک یې اغوستی و او مخ یې سم نه‌ښکارېده، ورغلم او له نږدې مې ورباندې غږ وکړ: حبیب یې؟

ده هم زه نه‌وم پېژندلی، ځکه سر تر پښو د کرونا په محافظتي جامو کې پټ وم. رامخته شو او ویې ویل:

- بلې حبیب یم، مهرباني وکړئ.

- زه صبور یم.

-څه وایې؟ سلام، سلام، صبورجانه! دا ته یې؟ ومې‌نه‌پېژندلې. ته دلته څه کوې؟

-وعلیکم، صفاکاري کوم، یعنې وظیفه لرم.

-ښه ښه، ډېر ښه!

-خیریت خو به وي؟ ته دلته څه کوې؟

- ولا څه ووایم، د پلار وضعیت مې ډېر خراب دی. همدا اوس مو راوړ او په عاجل اتاق کې یې بستر کړ.

-ښه، ښه، هغه ستا پلار دی؟
-هو، خو صبورجانه ته خو به دلته ډاکټران پېژنې، جدي مرسته دې غواړم، وضعیت یې ډېر خراب دی.
-هېڅ تشویش مه‌کوه، د دې ځای ډاکټران مریضانو ته ډېره پاملرنه کوي.
-کور دې ودان.
- دا ناروغي لا بل مصیبت دی چې په انسانانو رانازل شوه.

د حبیب پلار درې شپې په روغتون کې بستري و او ډاکټرانو ډېر کوښښ وکړ چې ورغېږي، خو د خدای تعالی رضا بل څه وه. په درېیمه ورځ ماسپښین مهال د حبیب‌جان پلار له ډېرو دردونو او تنفسي ستونزو ساه ورکړه او ځان یې حق ته وسپاره. د سنټر لخوا مو امبولانس ورکړ او مړی یې د هغوی کلي ته یوووړ او د ښخولو په مراسمو کې یې هم کم شمېر کسانو گډون وکړ. کله چې یې جنازه لېږدوله، نو حبیب مې له لرې ولید او نږدې ورنغلم. دوی هم په بیره کې وو او ما هم ورته ډېر مزاحمت ونه‌کړ.
د هغې ورځې په سبا مې خپل دوه تنه همکاران ولیدل چې په خپلو کې سره ولاړ دي او په زوره زوره غږیږي. د کرونا رخصتیو او د یوازیتوب ورځې وې، ما هم ځان ورورساوه او په مجلس کې یې شریک ش
وم، وار له واره مې ترې وپوښتل:
-هلکانو په څه خبره داسې خاندئ چې غږ مو تر ما پورې راورسېد؟
یوه یې راغبرگه کړه:



- تېره ورځ چې کوم سپین‌ږیری په عاجل اتاق کې بستر و او ومړ، هغه دې په یاد دی؟
-هو، ولې؟ هغه زما د انډیوال پلار و.
-هر څوک چې و، خو په هغه ورځ یې چې جنازه د دوی کلي ته یوړه، نو موږ هم ورسره لاړو چې د دوی کور دوا پاشي کړو.
-ښه، ښه، نو بیا څه وشول؟
-په کور کې یې یوې ښځې راته ویل چې په شفاخانه کې خو د کرونا مړو پر سر یو لک افغانۍ ورکوي، زموږ د خسر پیسې به کله موږ ته راکوئ؟
-دا څه وایې؟ د هغه زوی زما انډیوال دی. زه یې له نږدې پېژنم، هغوی نام خدا په وس کې تر ډېرو خلکو ښه دي، دا خبره به یې نه‌وي کړې.
-ولې، زه څه درواغ وایم؟
-نه هسې ما ویل چې کوم چا به په ټوکه دا خبره کړې وي.
-ته او خدای، د مړي په کور کې هم څوک ټوکې کوي.

***


ماښام د شفاخانې په انگړ کې ناست وم، هوا ملایمه وه او د شفاخانې له شوره مې مې دلته پناه راوړې وه چې د ټلیفون زنگ راغی.
-بلې!
-بلې، سلام صبورجانه، حبیب یم.
-سلام حبیب‌جانه جوړ په خیر!
-تېره ورځ مو سره ونه‌لیدل، قبله‌گاه صاحب مو خدای وبښه، خوا مې پرې بده شوه، خو د تقدیر په وړاندې موږ څه نه‌شو کولای.

-خوار مه‌شې صبورجانه، بلکل د خدای رضا ده او موږ په سر سترگو منلې ده. کور دې اباد.
-حبیب‌جانه، امر کوه!
-ولا صبورجانه په دې ماښام مې درته زنگ وکړ چې یوه پوښتنه درنه وکړم.
-مهرباني، وایه کنه زه دې په خدمت کې یم.
-صبورجانه ته خو خپل سړی یې او دغلته په کرونا ستیر کې له ټولو سره پېژنې، ما ویل چې هغه د پلار د مړي په پیسو پسې مې کله درشم؟
- دا څه وایې حبیبه، کومې پیسې، د خدای روی ته وگوره ته خو په خبره پوه سړی یې دا خبره د منلو ده؟
-گوره صبورجانه، زه پوهېږم چې خبره رانه پټوې، گوره تول یې چې اخلي، زه خو دې نږدې ملگری یم.
-مه کوه، دا خبره ولا که وي، روغتون د څه له‌پاره د مړو په سر پیسې ورکړي؟
-هغه خو به تاسو ته معلوم وي، وایي روغتون ته له مرکزه د هر مړي په سر پیسې راځي او نړیوال دولتونه هم د افغانستان له دولت سره مرسته کوي.
-هېڅ داسې خبره نه‌شته، نړۍ خپله له کرونا سره لاس او گریوان ده، ته خو به هم خبرونه اورې، هره ورځ په سلگونه خلک مري.
-سمه ده، خو گوره پام چې دا خبره چاته ونه‌کړې چې بیا به خلک وایي د پلار په مړي یې پیسې اخیستې دي.
خدای پاماني مې وکړه او ټلیفون مې بند کړو. تر سهاره مې



په دې فکر کاوه چې حبیب ولې دومره ساده شوی او ولې په هرې اوازې پسې ځي؟
به سبا یې لس- لس نیمې بجې به وې چې ټلیفون ته مې زنگ راغی. د مور له ماماخیلو څخه مې وه، ښه ډېر ساعت مې ورسره مجلس وکړ، بیا یې راته وویل چې مور یې وفات شوې ده، ډېر خپه او خجالته شوم. مور ته یې خپه په دې شوم چې د نیستۍ ژوند یې تېر کړی و او خجالته ځکه شوم چې پرې نه‌وم خبر شوی او فاتحې ته یې نه‌وم ورغلی.
په خبرو خبرو کې یې راته وویل:
-صبورخانه، یوه مرسته مې درنه غوښته.
-وایه، ولې نه څه مې چې په وس کې وي، نه یې دریغوم.
-دا زما د مور مړینه که په روغتون کې راته د کرونا په نوم ثبت کړې.
-ولې؟
-هسې ما ویل چې لاس مې ډېر تنگ دی، پیسې به یې واخلم او یوه مخه به پرې رالنډه کړم.
ټلیفون مې په لاس کې پاتې شو او فکرونو پسې واخیستم، د خلکو دې ډول چلند ته حیران او گوته په غاښ پاتې وم چې د کرونا په اړه پوهاوی دومره ژر د خلکو زړونو ته نه‌لوېږي لکه دا بې‌بنسټه او تشې اوازې.


زما د مور نوم د کرونا
د مړو په لیست کې ولیکې.



**چاته ونه وایې!**

اول کې مې پښو لړ لړ درد کاوه، ورپسې مې دردونه ملا ته پورته شول، ورسره ورسره مې تبه هم شوه او ټکنی یې کړم. نږدې کلینیک ته ورغلم او هلته مې ناست ډاکټر ته وویل: ډاکټر صاحب دا څو ورځې مې پښو درد کاوه، خو اوس مې ملا هم ورسره په درد ده او سخته تبه مې وي. ما ویل چې یو ټسټ وکړم چې کرونا خو به نه وم. ډاکټر د کرونا په محافظتي کالیو کې پیچلی ناست و، یوه پرزه یې راته ولیکله.

پرزه مې واخیسته او دننه ورغلم. هلته له لږ ځنډ وروسته نوبت راغی. لکه ښنګه چې ما فکر کاوه هلته هیڅ بیروبار نه و. زړه مې ډاډه شو چې که کرونا دلته ډېر زور اخیستی وای، نو حتماً به په کرونا سنټر کې بیروبار وای. له ځانه سره مې وویل چې که خدای کول، نو زه هم کرونا نه یم.

سمپلونه یې رانه واخیستل او راته یې وویل چې څو ورځې وروسته یې پوښتنه وکړه. د ماسک په پوزه کولو او له نورو سره یې د فاصلې او واټن مراعاتولو سپارښتنه راته وکړه او دا یې هم راته وویل چې د ځان درد لەپاره باید د درد او تبې ګولۍ وخورم. د سنټر ټلیفون شمېره مې واخیسته او ښه ډاډه تري راووتم.

ټوله لار مې په خپله سادەګۍ خندا راتله چې څنګه د تبلیغاتو تر اغېز لاندې راغلم او هېڅ په هېڅه مې معاینات وکړل چې کرونا نه‌یم. دا دومره خلکو کې ولې یوازې زه کرونا شم؟ زه چې ځان ښه هم ساتم او هغه د چا خبره هر څو دقیقې وروسته مې خپل لاسونه هم مینځم، ماسک مې اچولی وي او له هغې ورځې چې د کرونا غږ لګېدلی، له چا سره مې په لاس ستړي مەشي او له نږدې روغبړ هم نەدی کړی.

همداسې په قدم قدم د انارګل تر دوکانه راورسېدم. د دوکان مخې ته لږ لرې د ونې کُنده پرته وه، هلته به هر وخت له ملګرو سره راټولېدو او بنډار به مو کاوه. د غرمې مخه وه او د انارګل د سودا وخت و. چا مستې اخیستې، چا هګۍ، چا د ګازو ډبې ډکولې او څوک هم په مالګې او مرچو پسې راغلي وو. څلور پنځه ماشومان هم د دوکان مخې ته ولاړ وو او په لاسونو کې یې لسګون او شلګون له لرې معلومېدل.

سر مې ورهسک کړ چې انارګل ووینم او غږ مې پرې وکړ: اناره څه حال دی؟

ده هم د دوکان له دربچې سر راوایست او لاس یې راته پورته کړ: جوړ په خیر، اوس درخلاصېږم بیا به غوړې کوو.

پوهېدم چې تري لرې یم او غږ مې سم نەاوري نور مې څه ونەویل، لمر راباندې ښه لګېده او هډونه مې یې وتبل.



په څه چرت کې به تللی وم چې تر شا مې چا غږ وکړ: خیر خو به وي، څه بیرې دې غرقې دي چې داسې چرت وړی یې؟ مخ مې ورواړاوه امیرمامد و. ورغبرګه مې کړه اوهو جوړ په خیر، راځه خدای دې راوله، خو له ما به هلته لرې کینې چې زه چندان جوړ نه‌یم. ده په کړس کړس وخندل او ویې ویل: نو ځکه داسې غلی غلی کېږې. په اوږه یې وټپولم او تر څنګ مې کېناست. که څه هم زړه مې نەغوښتل چې دومره دې راته نږدې کینې، خو سرسري پوښتنه مې ورسره وکړه او مخ مې تري واړاوه چې د خولې تنفس مې ورنەشي.

څو شیبې وروسته انارګل هم راغی، له دوکانه یې چوکۍ ورسره راوړې وه، پرته له دې چې زه ورته ووایم، له موږ لرې مخامخ راته کېناست او ویې ویل: په اجازه مو زه به لږ لرې درنه کېنم چې هغه د ډاکټرانو خبره فاصله مې ساتلې وي.

ټولو یې خبرې ته وخندل، بیا یې وپوښتل: ښه ښه وایه څه کیسې دي؟

ما ورغبرګه کړه:

-ولا که هېڅ کیسې وي، بس هره خوا همدا د کرونا کیسې دي. همدا اوس د کرونا له سنټره راغلم، ټسټ یې رانه واخیست.

-ولې ناروغه یې که څه؟

-نەپوهېږم دا څو ورځې مې ټول بدن درد کوي او دروند غوندې یم .

انارګل یې په ورسره څادر ورو، خپله خوله او پزه پټ کړل، داسې چې ګومان یې کاوه زما ورته پام نەشو.

له دې سره امیرمامد بیا په کړس کړس وخندل او ویې ویل: د خدای بندەګانو دا خبره د بل چا تر مخ ونەکړئ چې درپورې

وبه‌خاندي.
ما وویل: ولې، په څه به خاندي؟
-ځکه چې دا کرونا مرونا اصلاً هېڅ نه‌شته. دا هسې د نړیوالو دسیسه ده چې په دې توگه خپل پلانونه عملي کړي.
انارگل یې خبره ورپرې کړه: د څه شي پلانونه؟
-هی هی موږ او تاسو ته نو چېرې وایي چې د څه شي پلانونه لري، بس خو له موږ ترلې چرگان جوړي چې د دوی په خوله به خورو او د دوی په خوله به مرو.
ما چې ډېرې خبرې مې په زړه هم نه‌کېدې ورته مې وویل:
- گوره امیرمامده! داسې به هم نه‌وي، همدا اوس چې زه کومه ناروغي لرم که دا رښتیا کرونا وي او زه ستا په خوله بې‌احتیاطي ورسره وکړم، نو کېدای شي همدا اوس تاسو دواړه په دې ناروغۍ اخته شئ او له هغې وروسته تاسو خپلې کورنۍ اخته کولای شی. نن یې هم په خبرونو کې ویل چې په افغانستان کې هم د کرونا مثبتې پېښې مخ په ډېرېدو دي.
-گوره ته مې په دې خبرو نه‌شې ډارولی. بس هسې محرقه ده او خلک د کرونا په نوم ترې ډاروي.
همدا اوس زموږ په کور کې ټول څوارلس تنه محرقه یو. هغه زما مشره ورندار چې کلینیک ته ورغلې وه، نو هغې ته یې ویلي و چې ټسټ درنه اخلو، درې ورځې وروسته چې زما ورور ورته زنگ وکړ ویل یې مریض مو کرونای مثبت دی.
منې که نه، هغه یې سمه وارخطا کړې وه. زه چې کورته ورغلم کوټه یې بیله کړې وه او ټولو ته یې ویل چې له ما به لرې گرځئ. بیا ما ډاډ ورکړ چې هېڅ خبره نه‌ده، بس هیچا ته مه‌وایئ او خپل روزگار کوئ. مه کوټه بیلوئ او مه هم کاسه.



له هغې ورځې راهیسې چې یو تن راجوړ شي، بل ونیسي، خو کومه ده چې کرونا شو؟ دا دی زه مو تر مخ ناست یم.
زما زړه گېنۍ ونیو او ورته مې وویل: ای د خدای دوسته، نو څوارلس تنه یو ځای کله محرقه نیسي، خو همدا کرونا ده. په ځینې کسانو اسانه تېرېږي، څوک خو بیخي د کرونا نښې نه‌لري، خو نورو ته یې انتقالوی شي.
سترگې یې وگډېدې او راته یې وویل: گوره دا خبره دې بیا له خولې وانه‌ورم. زه درته وایم چې که کرونا وای، نو موږ به یې ټول وژلي وو.
-چا ویلي چې کرونا ټول خلک وژني؟ او بل دا چې تاسو خو د شپې بندارونو ته هم ځی او له هر چا سره روغبړ هم کوی، نو خلک خو به ضرور درنه نیسي.
-یاره دا خبره خو دې دومره اوږده کړه. ولې موږ درته په دې ټول کلي کې گنهکار ښکاره شوو چې بل څوک به نه‌نیسي او یوازې موږ به ټول له یوه سره پرې اخته کېږو.
انارگل چې یو ځل یې ما ته او بیا ده ته کتل په حیرانۍ وویل: گوره امیرمامده تا خو دا ماته هم نه‌دي ویلي او هره ورځ پیسې راکوې او سودا رانه‌اخلې، که ما درنه ونیسي نو بیا به څه کوم.
-که یې رانه‌ونیوې تاوان دې پر ما.
څادر یې څنډ واهه او له ځایه پاڅېد. لا به څو قدمه نه‌و لرې شوی چې بېرته یې مخ راواړه او ویې ویل: گورئ هلکانو چې دا خبره مې تاسو ته وکړه بل چاته یې ونه‌وایئ. ما په کور کې هم ټولو ته ویلي چې دا خبره دې چاته نه‌کوي. خلک خو هسې هم د خبرو له‌پاره پلمې غواړي.

امیرمامد په خپله مخه ولاړ او ما او انارگل یو بل ته سره کتل.
انارگل یې سر وښوراوه او په افسوس یې وویل: عجبه خلک دي، اوس به د دوی له وجې زه ځان قرنطین کوم، زما زړه مور ولا که د یوې تبې زور هم ولري.
مازدیگر د دروازې مخې ته ناست وم. د امیرمامد خبرو ډېر وډار کړم. ډاډه شوم چې اکثره خلک کرونا دي، خو یو بل ته حال نه‌وایي. له ځانه سره مې چرت واهه چې تر هغې مې ټست راځي باید ځان قرنطین کړم. له ځانه سره مې فکر کاوه چې څنگه به د خپلې ناستې او ولاړې ځای او د خوړو لوښي، له نورو بېلوم. زموږ کور وړوکی و، خو موږ هم د نورو په څېر د کور مخې ته مهمانخانه لرله، نو ما پرېکړه وکړه چې سر له همدې شیبې به په مهمانخانه کې ځان قرنطین کړم.
په دې کې د «سلام علیکم!» غږ راباندې وشو.
پورته مې وکتل لمر ته یې څېره سمه نه‌ښکاریده. یوه سترگه مې پټه کړه او چې مې ور وکتل په لویه لار کې غلام مامد د امیرمامد مشر ورور ولاړ و، سلام مې ورغبرگ کړ.
ده بیا راباندې غږ وکړ: راځه چې جماعت رانه قضا کېږي.
- ولا زه چندان جوړ نه‌یم، څوک به رانه ناروغ شي، ما ویل په کور کې به یې وکړم.
-ولې، خدای دې نه‌کړي، څه ناروغي دې ده؟
-هسې مې لږ تبه ده او ځان مې درد کوي.
- هههههه، ته او خدای که به داسې بې‌غیرته کېږې، یوه تبه او د ځان درد به څه وي چې ته یې داسې غلی کړی یې.
- څه وایم، ځان مې سخت خوږېږي، او ډارېږم چې کرونا نه‌وم.



-هههههه، د څه شي کرونا، بس همدا محرقه ده، موږ یې نر او ښځې له یوه سره نیولي یو. ولا که مو ری هم په کې وهلی وي.
-هو، امیرمامد هم وویل چې ټول ناروغه یاست، مگر گوره، لږ احتیاط کوئ چې نور مسلمانان درنه ونه‌نیسي.
- څنگه یې کوې، مرگ خو هسې هم راځي چې دا لمونځ خو مو په جماعت وي، نور خو هسې هم په دې دنیا هېڅ نه راپاتې کېږي.
-زه خو وایم چې د جماعت تر ثواب به دا لوی ثواب وي چې موږ له خلکو گوښه شو او نور رانه ونه‌نیسي.
-ته یې وایه، خو زما ایمان په داسې خبرو نه‌کمزوری کېږي. زه چې په جماعت لمونځ ونه‌کړم نو طاقت مې نه‌کېږي.
دا خبره یې وکړه او بیا په بیړه بیړه یې گامونه واخیستل.
له هغې وروسته مې امیرمامد او د هغه ورونه په ډېرو مجلسونو او له گڼه‌گوڼې په ډکو ځایونو کې ولیدل.
دوی د خلکو په منځ کې په خلاص لاس گرځېدل او زموږ په سیمه(کندهار) کې کرونا کور په کور خپره شوه. ډېر کسان تر روغتونه ورسېدل او ډېر ناروغان خو بېرته خپلو کورونو ته ستانه نه‌شول.
او د دوی په کور کې د کرونا شتون تر اوسه د محرقې په نوم یو راز پاتې شو.
تاسو به وایئ چې زما د ټست نتیجه څنگه شوه؟ نتیجه مثبته وه او زه دا یوه میاشت کېږي چې قرنطین یم. د خدای فضل دی، بل څوک یې رانه نه‌دي نیولي، خو له انارگله نه‌یم خبر.



## اتفاق

گلاب‌خان له کوچنۍ دریځې څخه ورقه واخیسته او مخامخ په چوکۍ د نوبت په تمه کېناست. ځان یې سخت درد کاوه او ستونی یې داسې سوځېده چې ان لاړې یې هم نه‌شوای تېرولی.

درد بې‌حوصلې کړ، په لاس کې کوچنی کاغذ یې تر څنګ ناست کس ته ونیو او ترې ویې پوښتل:

-زویه ته دا ورقه وګوره چې زما نوبت څووم دی؟

هلک له لرې غاړه وراوږده کړه او ورقې ته یې وکتل، بیا یې په لوړ غږ وویل: اته دیرشم. ماما اته دیرشم نمبر دې دی.

ګلاب‌خان یې خبره له ځان سره تکرار کړه اته دېرشم، بیا یې هلک ته وویل: اوس د څووم کس نمبر دی؟

-اوس شپاړسم نفر ورغلی.

-شپاړسم؟

-هو شپاړسم!
- دا خو به په ډېر ځنډ ماته نوبت راشي.
هلک له خپله ځایه پاڅېد او دباندې ووت. د ده ځان درد نور هم پسې زیات شوی و، دی هم ورپاڅېد او د ورې کړکۍ مخې ته ورغی، هلته یو په عمر پوخ سړی ناست و، ورغږ یې کړل: زویه وه زویه، ځان مې ډېر زیات خوږېږي، که لږ وختي نوبت راکړې ښه به وي چې تر کلي رسېږم راباندې ماښام کېږي.
ناست سړي په ځواب کې ورته وویل:
-نه ماما، داسې نه ده، تر څلورو بجو ټول مریضان خلاصېږي، ته هملته کېنه، اوس دې نوبت رارسېږي.
-څه وخت به راورسېږي؟ زما خو نور طاقت نه‌کېږي، ډېره تبه مې ده.
سړي سر ټیټ کړ او په ټیلیفون بوخت شو. ګلاب‌خان په قهر شو او تر خپل څنګ ولاړ سړي ته یې وویل:
-پخوا به چې څوک وشرمېدل، نو سترګې به یې ښکته واچولې، اوس چې ټیلیفون پیدا شو د خلکو له سترګو شرم هم والوت، د شرم په ځای ټیلیفون ته ګوري.
سړي ته خندا ورغله، مخ یې ترې واړاوه.
په غرفه کې ناست سړي خبره ورغبرګه کړه: ماما، زه نو څنګه وکړم؟ دلته ټول مریضان دي، بیا غال‌مغال کوي.
ګلاب‌خان چې ځان درد وارخطا کړی و، ترې وخوځېد او بېرته په چوکۍ کېناست.
څلورو ته شل پاتې وې چې نوبت یې راورسېد.
ډاکټر خپلې دستکشې سمې کړې او بیا یېورباندې غږ وکړ:



-ماما څه تکلیف دې دی؟
ګلاب‌خان چې دردونو خورا ډېر وارخطا کړی و او د نوبت ځنډېدو له کبله سخت په غوسه و، په جګ اواز وویل:
-تکلیف؟ تکلیف مې ته معلوم کړه، که زه پوهېدلی چې تکلیف مې څه دی، نو تاته د څه له‌پاره راتلم.
ډاکټر خپلې وروځې سره کش کړې او بې له دې چې ځواب ورکړي، معاینه یې شروع کړه.
کوم ځای دې ډېر درد کوي؟
- په دې پسې مه‌ګرځه، دا رانه وپوښته چې کوم ځای دې نه‌خوږېږي؟ د سر له ویښتو را نیولې، د پښو تر نوکانو پورې مې ټول وجود درد کوي. سر مې، ستونی مې، پښې مې، ملا مې، پرنجېږم، پزه مې بهېږي، نور به نو څه درته ووایم. داسې دردونه دي چې زه ووړ راغټ شوی یم، تر اوسه مې نه‌و لیدلي.
-ډاکټر چې په نسخه کوم څه لیکل، قلم یې کېښود او ګلاب‌خان ته ښه غوږ شو. بیا یې ځنې وپوښتل: ماما کرونا خو به نه‌وې؟
-زه نو څه پوهېږم، ما خو خپل حال درته ووې، نور نو ته پوه شه او کار دې پوه شه.
ډاکټر یو- دوې کرښې ولیکلې، بیا یې نسخه له لرې ورته ونیوه او ویې ویل:
-هه، ماما واخله، دا دوا به له دواخانې واخلې، کابل ته لاړ شه چې هلته ټسټ درنه واخلي. دا خوله او پوزه دې هم پټوه، که کرونا وې چې نور خلک درنه ونه‌نیسي.
-خیر یوسې زویه، ګوره چې سمه دوا دې راته لیکلې وي؟ تېره ورځ هغه د بازار په بر سر کې چې معاینه‌خانه لري، هغه

ډاکټر ته ورغلی وم، ها د میرزا زوی درته یادوم. خدایزده چې په ډاکټرۍ پوهېږي او که نه؟ دوه رقمه ګولۍ او یو بوتل شربت یې راکړل، دا دوې شپې یې خورم، خو هېڅ تاثیر راباندې نه‌کوي.

-ماما د دې مرض دوا دلته په ولایت کې نه‌شته، دا خو وړوکی کلینیک دی چې د عادي ناروغیو علاج په کې کېږي، که زما منې نو ښه دا ده چې کابل ته دې ځان ورسوې چې هلته بستر شې.

په دروازه کې ښه نیولی شو، بېرته یې ډاکټر ته مخ کړو او ویې ویل: ډاکټر صاحب له څه شي پرهېز وکړم؟ څه شی وخورم؟

ډاکټر چې ډېر بې‌حوصلې شوی و، ورته وویل: داسې خواړه خوره چې وجود دې پرې تقویه شې. له هېڅ شي پرهېز مه‌کوه، خو ډېر ساړه شیان مه‌خوره!

-ګلاب‌خان چې په یو بل پسې زګیروي کول، سوکه سوکه د کلي پر لور وخوځېد. د لارې ستړي مزل او سوړ شمال د هغه حالت نور هم پسې خراب کړو. کور ته چې ورسېد، نو د تبې په اور کې سوځېده. ښځې یې د غره چای ورته دم کړو او دوه ګیلاسه یې تود تود وڅښه. د ډاکټر دوا یې هم وخوړه، خولې شو او د ځان درد یې ورسره لږ څه کرار شو.

ښځې ته یې مخ کړو او په مینه‌ناکه لهجه یې ورته وویل: خدای دې ښه درسره وکړي، دا د غره چای ډېر ښه بوټی دی، دا درې شپې مې همدا د ځان درد کراروي.

ښځې یې هم په نرمه او له مهربانۍ په ډک انداز ورغبرګه کړه: دارو دې شه سړیه، پخوا خو همدا بوټي وو، د ډاکټرانو دا سپېرې ګولۍ خو ایله اوس راپیدا شوې.

د شپې ګلاب‌خان بیا سختې تبې ونیو. زوی یې سرته ناست و



او هره شیبه به یې ورته لمده ټوټه پر تنده اېښوده. نور نو هغه په پښو نه‌شو درېدلی او د درد له زوره یې زګیروي هم کرار شوي وو.

سهار وختي یې زوی د اهنګر زوی کور ته ورغی چې د وردګو او کابل په لین کې یې موټر چلاوه. سترګو لا سم څار نه‌کاوه چې ده یې دروازه ورو‌ټکوله.

څو شیبې وروسته یې دروازه پر مخ خلاصه شوه. د اهنګر زوی وارخطا راووت:

څوک یې؟ څه خبره ده؟ خیریت خو به وي چې په دې شنه سهار راخطاوتی یې؟

د ټلیفون څراغ ته یې د ګلاب‌خان زوی ولید چې رنګ یې الوتی او ناهیلۍ او مجبورۍ بې‌وسه کړی دی. د ګلاب‌خان زوی وویل:

-وروره خبره تر خیریت تېره ده، د ابا وضعیت مې بیخي خراب شوی، ما ویل چې تر سړکه دې راسره وړې وای، هلته مې د کابل موټرونو ته رسولی وای، که یې کابل ته ونه‌رسوم، ابا مې مري.

-په سترګو به درسره تللی وای، خو ماښام چې راغلم ښکته په ولسوالۍ کې سخته جګړه وه، اوس هم لاره له دواړو خواوو بنده ده.

-دا څه وایې؟

-رښتیا درته وایم. له دې خوا طالبانو کمین نیولی او موټر نه‌پرېږدي چې له کلي د سړک پر لور ولاړ شي. له هغې خوا حکومت‌یانو لاره بنده کړې او څوک نه‌پرېږدي چې د کلي پر لور راشي. سور اور بل دی.

-دا څه وایې؟ ابا مې که تر بېګاه کابل ته ونه‌رسوم، نو خدای

پوهېږي چې ژوندی پاتې شي.

-نه، خدای دې نه‌کړي، داسې مه‌وایه.

د ګلاب‌خان زوی تر لمر خاته پورې په دوو- درېیو نورو کورونو هم وګرځېد او د موټر او لارې پوښتنه یې وکړه. بیا یې زړه طاقت ونه‌کړ او د سړک غاړې ته نږدې یې د پلار د ماماخیلو کور و، د هغه زوی ته یې زنګ وواهه او د لارې پوښتنه یې ترې وکړه. هغه هم په ټیلیفون کې همدا خبره ورته وکړه چې په لاره کې سخت جنګ دی او بنده ده.

کمکی بریځر د ګلاب‌خان حالت دومره خراب شو چې په تبه کې یې بې‌حالي کوله. زوی یې چې د هغه دا حالت ولید، نو حیران شو چې ځنګه او چیرته یې د علاج له‌پاره ولېږدوي. هغه د کلا شاوخوا راچاپېره غرونو ته وکتل، څو شیبې یې له ځان سره فکر وکړ او بیا یې د جومات پر لور منډه کړه.

***

ملا صاحب چې له لرې د ګلاب‌خان زوی ولید، له هماغه ځایه یې وربانډې غږ وکړ:

-هلکه ستړی مه شې، پلار دې ځنګه دی؟ دا څو شپې مې په جومات کې نه‌دی لیدلی.

د ګلاب‌خان زوی غاړه چې د ډېر چټک تګ په وجه سوځېده او ستمی یې خوت، ځواب ورکړ:

-ملا صاحب څهووایم، د ابا وضعیت مې هیڅ ښه نه‌دی.

-ولې، خدای دې نه‌کړي، یو ځل یې دا لنډ کلینیک ته وروله، دوا یې ډېره بده نه‌ده.

-ملا صاحب هلته دوه ځله ورغی، پرون یې ورته ویلي و چې د علاج له‌پاره کابل ته لاړ شي، دلته په وردګو کې د دې مرض



لپاره کوم ځانګړی روغتون نه شته.

-ښه، دا خو یې بده خبره نه‌ده درته کړې، همدا یې ښه وخت دی چې حرکت وکړئ او کابل ته یې ورسوئ. ورځ ډېره ده، تر مازدیګره رسېږي.

-ملا صاحب زه هم د همدې له‌پاره تاسو ته راغلم، چې یو اعلان راته وکړئ.

-اعلان، د څه شي اعلان؟

-ملا صاحب، د کلي لاره له دوارو خواوو بنده ده او نه موټر کلي ته راتللی شي او نه ترې تللی شي. ما ویل که ته یو اعلان وکړې چې خلک راټول شي او ابا مې تر عمومي سړکه په کټ کې راسره یوسي. هلته به بیا د کابل موټرونه ځي.

-دا څه وایې، عمومي سړک خو ډېر لرې دی.

-ځنګه یې کوې ملاصاحب، بس نور مې فکر ته بل څه نه‌رارسي، بس همدا یوه لاره راپاتې ده چې تر عمومي سړکه یې ورسوم. هلته له غزني څخه د کابل پر لور موټرونه ځي، دوه درې ساعتونو کې تر کابله رسېږو.

ملا صاحب زړه نازړه وویل:

-دا خو د خیر کار دی، زه همدا اوس اعلان کوم، خو خدای دې وکړي چې په خیر یې ورسوئ.



په لوډسپيکر کې د ملاصاحب غږ اوچت شو:
-اعلان، اعلان، ورونو! زموږ او تاسو کليوال او عزيز، ګلاب‌خان ډېر سخت ناروغ دی چې دلته يې علاج نه‌کېږي، د کلي لاره هم بنده ده. له تاسو مې هيله ده چې سره راټول شئ او ګلاب‌خان په کټ کې تر عمومي سړکه ورسوئ.
اعلان دوه ځله تکرار شو او د ګلاب‌خان زوی خپل کور ته لاړ او د کور په دروازه کې د خلکو په تمه پاتې شو. نيم ساعت به لا نه‌و تېر چې د کلي ډله خلک د جومات له لوري د دوی د کور په خوا ورغلل.
خلکو ګلاب‌خان په کټ کې په څادر باندې کلک وتاړه.
کليوالو ځوانانو کټ په اوږو کړ. هله، هله، هله د غرونو په سر تېره لنډه لار يې ونيوه. په لاره کې څو ځايه تر کټ لاندې کسان بدل رابدل شول او نورو کسانو چهارپايي ته اوږه ورکړه.
خلکو کوښښ کاوه چې کرار کرار مزل وکړي تر څو د دوی د بې‌پروايۍ له وجهې ګلاب‌خان په عذاب نه‌شي. څو ځايه خو ان د ځينې کسانو پښې وښويېدې او کټ ترې کوږ شو، خو څادر تړلو ورته ګټه وکړه او ګلاب‌خان ته کوم زيان ونه‌رسېد.
لاره ستوغه او سترې کوونکې وه او د غره په سر غځېدلې لاره له خطره خالي هم نه‌وه. خو د کليوالو سترې په ځای ولګېدې او ګلاب‌خان يې د کابل- کندهار پر لور غځېدلي عمومي سړک ته ورساوه. هلته يې زوی په بيړه موټر کرايه کړ او ګلاب‌خان يې په درې- درې نيمو ساعتونو کې کابل ښار ته ورساوه.
ګلاب‌خان يې په روغتون کې بستر کړ، خو په هماغه ماښام يې ساه‌لنډي هم شروع شوه. ډاکټرانو ورته اکسيجن ورکړ او په عاجله خونه کې يې تر لازمي پاملرنې لاندې وساته.



د خدای رحم و او ګلاب‌خان څو ورځې وروسته بېرته مخ په ښه کېدو شو او تر درملنې وروسته خپل کور ته ستون شو.
د ګلاب‌خان زوی وايي، د پلار ناروغي زما يوازنۍ غم نه‌و. دلته په کلي کې د لازمو صحي خدمتونو نشت، د ناروغۍ په اړه زموږ ناپوهي او بدمرغه جګړه وه چې ناروغي او شرايط يې راته ډېر سخت کړي وو، خو د کليوالو مرسته او خواخوږي بيا هغه څه وه چې په هغه ورځ يې ماته لويه تکيه راکړه.



# کرونا سنټر

دلته د غزني ښار په دې روغتون کې له درېیو کلونو راهیسې د درملتون مسوولیت لرم. درې کاله به ډېر وخت نه‌وي، خو ماته یې د خوږو او ترخو خاطرو یوه لویه برخه راکړې ده. ډېر داسې ناروغان مې لیدلي چې د مرګ په حالت کې یې روغتون ته راوړي او دلته له یو- دوو ورځو یا هم څو ساعتونو وروسته په خپلو پښو درېدلي او د نوي ژوند له‌پاره په هیلو غږېدلي دي.

داسې کسان هم شته چې د یوې وړې ناروغۍ د درملنې له‌پاره روغتون ته راغلي، خو دلته ډاکټرانو ورته د مرګونې ناروغۍ خبر ورکړی او په څو ساعتونو کې د ډاکټرانو شفابښونکو لاسونو ورسره هېڅ مرسته نه‌ده کړې او مړي یې له روغتونه وتلي دي؛ هغوی چې په تلو یې په ټول روغتون کې یوه مرګونې خاموشي خپره شوې ده. مرګ دې ورک شي، غږ یې همداسې

مرګوني خاموشي خپروي!
زه ډېر کله وايم، روغتون يوازنی ځای دی چې په يوه وخت کې به، هم ورڅخه د معجزې تمه لرې او هم به ترې د بلا په څېر وېره. روغتون د مرګ او ژوند نرۍ پوله ده چې مړژواندې هيلې راژوندۍ کولای شي او کله کله بيا ژوندۍ هيلې هم هلته مړاوې کېدلی شي.
حالات به ډېر خراب شوي وي، خو داسې بد حالت چې دا څو مياشتې يې وينم، نه ما او نه هم د دې روغتون بل کوم کارکوونکي ليدلی وو.
هو، له هغې ورځې راهيسې چې دغه روغتيايي مرکز د کرونا ناروغانو د درملنې لهپاره ځانګړی شوی، په لسګونو ناروغان يې راوړي او يوازې بختور ترې رغېدلي دي. په هغه ورځ چې ناروغان لږ کم وي، ډاکټران هم دمه وي او په يو بل غږ او د حال پوښتنه کوي، خو کله کله داسې سخته ورځ هم راشي چې ډاکټران يوه خوا بله خوا منډې رامنډې وهي او يو تر بل ترې هېر وي.
مګر دا هم ده چې دلته يوازې د مرګ او ژوند خبرونه نهدي. د همدې ژوند او مرګ د خبرو په منځ کې ډېرې داسې خبرې شته چې د اورېدلو او فکر کولو دي.
دا د کړکۍ مخامخ چوکۍ چې وينې دلته اکثره ډاکټران او روغتياپال د دمې لهپاره سره راټولېږي. زما يې هم ډېر کله خبرو او غيبتونو ته ښه غوږ وي.
همدا څو شيبې مخکې زموږ تر مخې يو ځوان هلک د کرونا له امله وفات شو. ډاکټر يې پايواز ته خبر ورکړ او اوس يې له کلي څخه نور خپلوان په مړي پسې راځي. ځوان هلک



دی، خو مرګ ځوان او زوړ نهګوري او په هر چا چې يې وار راغی، نو مېلمه يې دی.
ته صبر چې زه دې کس ته دوا ورکړم.
-ام، ام، ها دا واخله، دا دې دوه قلمه دوا، ماسک دې هم بېرته وتړه چې ډاکټران بيا غالمغال کوي.
-سمه ده. ډاکټر ويل چې لوړ دوز يې راکړه.
-ورته وايه، هغه خلاص شوي دي.
اوهو، دا څه کوي؟ دا خلک څوک دي؟ ولې داسې په بيړه راننوتل؟ هغه دی کوم ډاکټر يې د اوبو په بوتل وويشت، اخ ښه شو ترې بچ شو، بوتل په ديوال ولګېد. اخ مه کوه، دا څه کوي چوکۍ يې پورته کړه. څه خبره ده؟ څه سره وايي؟ د ډاکټر غاړې ته يې لاس ورواچاوه.
ته صبر ديخوا ته راغلل، ډاکټر ورته څه وايي:
-ګورئ وروره، موږ له تاسو سره څه دښمني نهلرو چې ستاسو ورور به وژنو؟ دا همداسې ناروغي ده چې په ډېر کم وخت کې ناروغ وژلی شي.
-چپ شه، غلو، رشوت خورو، د دې لهپاره چې پيسې درته راشي خلک وژنئ. له دې نه خو ښه دی چې ټوپک واخلئ او پرې ويې ولئ.
څنګه مو زړه پرې کېده چې زما د ګل غونډې ورور مو راوواژه، هی، هی، هی...
-ګوره وروره ژاړه مه او صبر ولره، موږ د همدا تاسو غونډې خلکو د خدمت لهپاره کار کوو.
-خدمت مو مهکوئ، له خدمته مو تېر يو، خو وژنئ مو مه!
ته صبر چې يو ځل درباندې ټوله دنيا خبره کړم، چې په

افغانستان کې څه روان دي، خدای مو وشرموه، غلو!
-سر طبیب صاحب پام چې له شا دې په بوتل ولي.
-اخ!
-دا لوحه مو لرې کړئ چې روغتون مو وربانـدې لیکلی، دلته قصاب‌خانه ولیکئ، د خدای په قهر اخته شئ!
-مه کوه، وه وروره دا څه کوې؟
-مه یې پرېږدئ، ویې نیسئ!
-یو ځل خو به په لاس رانه‌شې، که مې دې خاندان در تباه نه‌کړو، بیا مې گوره!
-وروره هر څه چې کوئ، خو دا کلینیک دی، نورو مریضانو ته مزاحمت مه‌کوئ. اوس موږ امبولانس درکوو چې مړی مو انتقال کړي.
-راځئ دا رقم نه‌کېږي!
- سبا به ورته د غزني- کابل لاره بنده کړو، تر څو چې دا خبره معلومه نه‌کړو نه‌یې پرېږدم. رک روغ ځوان یې راوژلی. باید حکومت پرې راخبر کړو.

هو! همدا چې خپلوان یې کلینیک ته رانوتل نو یو دم یې شور ماشور جوړ کړو. چا ډاکټران د اوبو په بوتلونو ویشتل، چا یې گریوان ته لاس وراچولو، چا هم دروازو او مېزونو ته لغتې او سوکان ورکول. دوی ځکه داسې راپارېدلي وو چې ناروغ ځوان هلک و، دوی ته ډېر سخت ناروغ هم نه‌ښکارېد او داسې یو ناڅاپه مړ شو چې هیچا یې تصور هم نه‌شو کولای. په کومه ورځ چې ناروغ شوی و، اول یې تبه وه او ځان یې درد کاوه او دوی ته عادي والگی ښکارېده، خو کله یې چې په ساه اخیستلو کې ستونزه پیدا شوې وه، نو دوی بیا روغتون ته راوستی و. دلته



یې په دې سهار ناڅاپه ساه اخیستل دومره سخت شول چې نور یې د ډاکټرانو له هر څومره هڅې او کوښښونو سره سره ساه ورکړه. خپلوان یې چې له ناڅاپي مړینې خبر شول، نو خپل کنټرول یې له لاسه ورکړ او په ډاکټرانو یې رابانـدې کړه.
دا ناروغي همداسې ده چې هېڅوک یې وړاندوینه نه‌شي کولای.
په یوه شیبه کې ناروغ د مرگ تر پولې رسولی شي او دا چې نوې ناروغي ده، نو ډاکټران یې هم دومره په علاج کې خلاص لاس نه‌لري او درمل یې هم نه‌دي پیدا شوي. د ناروغ خپلوان چې په هغه وخت کې سخت قهرېدلي او غمجن وو، دومره دلایل نه اورېدلی شول او نه هم ورته د منلو وړ وو. دلته خو یې چې هر څومره ورانی وکړ ویې کړو خو بیا هم گواښېدل چې د کابل- غزني لویه لار به بندوي او موټرونو ته به اجازه نه‌ورکوي چې له لارې تېر شي. دوی وایې چې ډاکټرانو یې ناروغ په لوی لاس وژلی او له دولت څخه یې غوښتنه وه چې په دې اړه دې تحقیق وکړي.
د دوی په څېر دلته ډېر خلک داسې گومان کوي چې کرونا مرونا نه‌شته. ډاکټران خلک په خپله وژني، نوم د کرونا پرې ږدي چې له دولته روغتون ته پیسې راشي.
هغه دی عمر هم د دیټولو دبه په لاس راغی، هغه او قدیر د کورونو ضد عفوني کولو وظیفه لري. مگر دا خلک خو ډېر په غوسه دي، دوی به څنگه خپل کور ته نږدې پرېږدي.
ته صبر، شاوخوا گوري او په قدیر پسې نارې وهي.
قدیره، او قدیره راځه!
-څه وایې، پرې وژنې مې؟ خلک ډېر په غوسه دي او ته وایې چې موږ هم ورسره لاړ شو.



-ریس صاحب ویل چې ورسره لاړ شئ او کور یې دواپاشي کړئ چې نور ترې ونه‌نیسي.
-تا به ورته ویلي و چې دا خلک مو ولا که ژوندي پرېږدي.
-ځنګه یې کوي همدا مو وظیفه ده. ته راځه کلي ته چې ورشو تر هغې به یې غوسه سړه شوې وي.
-څه ووایم، ته صبر چې زه د ډیټولو ډبه راواخلم، درغلم.
ژر کوه چې امبولانس حرکت کوي، ماته یې د کلي لاره نه‌ده معلومه، چې په همدوی پسې رهي شو.
هغه دی قدیر او عمر بېرته راغلل. دوه دوه نیم ساعته تېر شول، کور یې لکه چې لرې و.
مخامخ دروازې ته یې موټر ودرواه، خو داسې ښکاري چې د موټر یوه ښیښه یې هم روغه نه‌ده پاتې. همداسې بې‌پروا موټر چلوي، چېرته به یې ټکر کړی وي. ډاکټر په مخه ورغی، ترې پوښتي. ته صبر چې څه وایي.
-څه خبره ده وه هلکه ځنګه داسې په بیړه روان یې؟
-پوښتنه مه‌کوه ډاکټر صاحب، له مرګه بچ شو؟
-څه وایې خیر خو به وي؟ د څه شي مرګ؟ څه پېښ شول؟
-د ناروغ د تره زوی ټوپک راپسې راواخیست.
-نه، دا څه وایې، ځنګه؟ ته راته کیسه وکړه.
ډاکټر صاحب څه به درته وایم، موږ چې کلي ته ورسېدو، د کور او کلي خلک د مړي په ښخولو بوخت شول. زه او عمر هم ورغلو، د کور دروازه مو ورو‌ټکوله. یو نیمچه هلک دروازه راته خلاصه کړه. ورته ومو ویل، راغلي یو چې کور مو دوا پاشي کړو، همدارنګه ستاسو په کور کې چې یو تن کرونا نیولی، نو د دې امکان شته چې نور کسان په دې ناروغۍ اخته



وي او باید ټسټ شي. هلک مخکې شو او کور ته یې ننوتو. یوې کوټې ته ورغلو. هلک ویل چې همدا د ناروغ کوټه ده. بله کوټه یې مخامخ وه. موږ په دوا پاشۍ لګیا شوو چې یوې زړې ښځې دروازه را خلاصه کړه. ښځې سم له واره په ښېرو پیل وکړ. بیچاره لکه چې د هغه هلک نیا ځوک وه. ولا ډېر مې وربانډې زړه بد شو. هم یې ښېراوې کولې هم یې ژړل. دوه- درې ښځې نورې هم له کوټې راووتې او ښکنځلې یې راته وکړې. همدا یې ویل چې خدای مو نامراده کړه، په دې پیسو مو ښه ومه‌شه، ځوانیمرګ شئ، هسې او داسې...
خیر موږ خپل کار کاوه چې هماغه هلک بېرته په بیړه راغی او چیغه یې کړه: هلۍ تښتئ چې کاکا مې لیونۍ شوی او ټوپک یې رااخیستی، ولې مو.
ډاکټر: دا څه وایې، دا څه په اوتو بوتو سر یې؟
- موږ دواړو رامنډې کړې او په بیړه مو ځان موټر ته راورساوه. موټر ته چې پورته شوو چې ګوره یوه ډله نارینه او هلکان راپسې منډې وهي. تېږې یې راپسې وویشتې، موږ ښه وو ترې بچ شو، خو د موټرو ښیښې یې راماتې کړې. داسې ښکنځلې یې کولې چې پوښتنه یې مه‌کوه.
-ډاکټر صاحب خدای مو مل و چې یو- دوو سپین‌ږیرو یې مخه ونیوه، کنه موټر ته یې لاره نه‌ورکوله.
-کوم یو خو به خوږ شوي نه‌وئ؟
-نه، د خدای په فضل موږ ترې بچ شو. ښه و کور یې وړوکی و، دوې کوټې یې لرلې، دواپاشي مو کړ.
- ځه ښه وشول. په دې خلکو دې خدای ورحمېږي!




## زما زړه ته نه‌لوېده

زوی یې له تېرو دوو ورځو راهیسې چې هر څه خوړلي وو، بېرته راگرځولي وو. اوس یې د نس پوستکی داسې گونځې گونځې او په نس پورې نښتی و چې هره پښتۍ یې له لرې ښکارېده.
وختي یې تنور لمبه کړ او د لېوره ښځې ته یې وویل: د زرغون مورې، د زرغون مورې غږ مې اورې!
زه لاړم چې هلکی یو ځل دې لنډ کلینیک ته یوسم، د کوټې ور مې نه‌دی تړلی چې پام دې وي.
د لېوره ښځې یې په ځواب کې وویل: ښه ده، سمه ده، ورځه ورځه بې‌غمه اوسه، زما پرې پام دی.
همدا چې له دروازې راووته، د لېوره ښځې یې ورپسې ناره کړه: د لالا ناوې!
ښځې مخ ورواړاوه او ویې ویل: هه، څه دې ویل؟
-گوره، لېوره دې پرون ویل چې ډېر دباندې مه‌وځئ او که

وتلئ، نو ډېر پام کوئ چې ډېر سخت او خطرناک مرض راغلی دی.

-وی خورې خدای دې نه‌کړي، زه شکر لمونځ او اودس په خپل وخت کوم، او چې خیر او خیرات مې له وسې شوی، نه مې دی سپمولی، نو که خدای غوښتي وي زه به ولې په دې ناروغۍ اخته کېږم، دا خو د کافرانو مرض دی.

کلینیک یې له کوره ډېر لرې نه‌و او په شپږ- اووه دقیقو کې ور ورسېده. د کلینیک په دهلیز کې داسې بیروبار و چې تا به ویل د سیمې ټول خلک ناروغه شوي او کلینیک ته راغلې دي. واړه، زاړه، ځوانان، ښځې او ماشومان د یوې خونې وره ته په تمه ولاړ و او هر چا کوښښ کاوه چې تر نورو د دروازې خولې ته ورنږدې شي. دې هم چې زوی په خپله غېږه کې ټینګ نیولی و، هماغې خواته چې ښځې درېدلې وې، ورغله. د ښځو په منځ کې ورګډه شوه او تر هغې د بندې دروازې مخې ته ودرېده، تر څو پورې چې یو کس له کوټې راووت. سړي په لوړ غږ وویل:

-ګورئ، داسې ټیل ماټیل که کوئ، نو ولا که هیچا ته نوبت ورسېږي. ټولې په نوبت او له یو بل لږ لرې ودرېږئ او ماسک واچوئ چې کرونا نه‌شئ، که خدای کول یوې یوې ته به نوبت در ورسېږي. بیا یې څو تنه چې د وره په مخکې ولاړ وو له ځانه سره کوټې ته دننه کړل او سړی بېرته راووت. د دې زوی هم په ژړا بنا وکړه. ښځې سړي ته مخ کړ او ورته یې وویل: وروره، وه وروره، دا ماشوم ډېر ناروغ دی، خوا یې راګرځي او تبه یې هم ده. ماته هم نوبت راکړه چې ډاکټر صاحب یې یو ځل وګوري.



سړي یې یا غږ وانه‌ورېد یا دا چې ځواب یې ورنه‌کړ.

له هغې خوا د ښځو او ماشومانو یوه لویه څپه او ټیل پرې راغی، او دا یې له دیواله سره جوخته ایساره کړه او د هغوی د وجود تودوخه یې حس کړه او داسې یې وانګېرله چې ګواکې د ټولو تبه وي.

دا ځل چې د کوټې ور خلاص شو، دې ته یې اجازه ورکړه. ډاکټر ورته وویل چې زوی ته یې اوبلن خواړه ډېر ورکړي او دوا یې هم ورته ولیکله. دوا یې د کلینیک په درملتون کې ورکړه او کور ته ستنه شوه.

له هغې ورځې به کابو یوه یا یوه‌نیمه اوونۍ وتلې وه چې د دې تبه شوه. په لومړي سر کې یې ورته ډېر پام نه‌کاوه. دوې ورځې نورې هم پسې تېرې شوې، خو نن یې سر او توده تبه شوه او ټوله شپه په ځای کې بیداره ناسته وه.

ستوني یې داسې خارښ کاوه چې ساه یې ځنې نه‌شوه اخیستی او چې سر به یې په بالښت باندې کېښود، نو د ستوني درد به یې شروع شو او ټوخي به شنه کړه. پزه یې هم بهېده او تبه یې ساعت په ساعت زیاتېدله. د مېړه یې ور پام شو، غږ یې پرې وکړ: څه خبره ده، لکه چې بیا دې فشار جګ شوی، درته وایم چې ډېر غوړ مه‌خوره، خو ته نه‌صبرېږې.

ښځې چې زګېروي کول، ورته وویل: نه سړیه، د فشار خبره نه‌ده، تبه مې ده، ټول ځان مې خوږېږي. خدای خبر، نن مې کالي ومینځل چې هغې سترې کړم که څه بلا وه.

مېړه یې په بل اړخ واوښت او ویې ویل: چې کرونا نه‌وې، سبا به یو ځل ډاکټر ته ورشو چې ټسټ واخلي. څو شیبې وروسته بیا څښا شوه. مېړه یې په تیاره کې پاڅېد او له کوټې

ووت، بېرته راغی، یو ګیلاس اوبه او یوه دانه پراستامول ګولۍ یې راوړه او ورته یې په ورغوي کې ور کېښوده او د اوبو ګیلاس یې ورته ونیو.

ښځې ګولۍ خولې ته واچوله او څو غړپه اوبه یې هم پسې وڅښلې. مېړه یې زوی په غېږه کې واخیست او بلې کوټې ته ترې روان شو.

ساعت وروسته یې وجود سپک شو او خوب پرې غلبه وکړه. د ملا له اذانه سره سم د ځان او سر په شدید درد راویښه شوه. په پښو کې یې سیک نه‌و چې د اوداسه تر ځایه لاړه شي. د زړه په زور یې اودس وکړ او لمانځه ته کېناسته. شیبه وروسته یې مېړه له جمعې راغی او ویې‌پوښتله:

-څنګه یې؟ تبه دې لږ سپکه نه‌شوه؟

ښځې په زګیروي زګیروي ورته وویل:

-ښه یم. چې کوټې ته لمر راولوېد نو ورته به څملم چې هډونه مې تاوده شي، ورسره به ښه شم، اندېښنه مه‌کوه.

د غرمې تنورونه چې لمبه کېدل، نو د ښځې ساه هم لږ لږ په بندېدو شوه. اول خو یې په ځان نه ور وړله، خو وروسته یې ساه‌بندي دومره سخته شوه چې تا به ویل څوک یې له ستوني رانیسي او بېرته یې خوشې کوي.

مازدیګر ناوخته یې چې مېړه انګړ ته راننوت، دې له لرې وربانده‌ې غږ کړ:

-سترې مه‌شې!

-خواره مه‌شې، ناروغي دې څنګه ده؟

-خدای که به ښه وم سړیه، داسې یم لکه څوک مې چې له ستوني نیسي، ساه مې بنده بنده کېږي.



مېړه یې نږدې ورغی او ورته ښه ځېر شو، مخ یې تک تور اوښتی و او ډېره په سختۍ یې ساه اخیسته. د مېړه وروځې یې سره ورغلې او بیا یې په بېړه وویل: سبا به یو ځل خامخا ډاکټر ته ورشو چې څه وایي. ماښام یې د لېوره ښځې ورته د چرګ یخني راوړه. دې هم ګرمه ګرمه وڅښله او لږ دمه یې ورسره جوړه شوه. دوې غبرګې پراستامول ګولۍ یې وخوړې او په خپل ځای پرېوته. ښه ډېر ساعت خوب ورې وه چې ساه‌بندۍ راویښه کړه. هم ټوخېده او هم یې ساه بنده بنده کېده. په بستره کې راکېناسته او دیوال ته یې ډډه ووهله. داسې ګومان یې وکړ چې نور یې نو ساه خېژي. تر سهاره همداسې ناسته وه. له یوې خوا د ځان درد، ټوخلې او ساه‌بندۍ خوب ته نه‌پرېښوده او له بلې خوا وېرېده که ویده شي، نو ساه به یې بنده شي او وبه‌مري.

سبا سهار یې مېړه او لېور د کوټې په وره کې ورته ودرېدل او لېوره یې وپوښتله:

-ورینداره څنګه یې؟

-ښځې شمېرلي شمېرلي ورته وویل: لا لا خدای که به جوړه وم، ساه مې داسې بندېده چې تر سهاره مې سر په بالښت نه‌دی ایښی.

-راځه چې یو ځل ډاکټر ته ورشو. هلته به ټسټ درنه واخلي، که کرونا وي نو بستر به دې کړو.

ښځې چې په خپلو غوږونو او اورېدلې خبرې باور نه‌شو کولای، په حیرانتیا وویل: څه؟ کرونا؟

ښځې په خوب کې هم داسې تصور نه‌شو کولای چې کرونا دې شي، خو اوس یې په ویښه او بیدارۍ کې دا خبره اورېدلې

وه. هغې باور درلود چې مسلمان هېڅ‌کله کرونا نه نیسي او دا مرض یوازې د کفارو دی او فقط هغوی نیسي.

زړه یې ګبنی ونیو او له ځانه سره یې وویل که روغتون ته لاړه شي او ورته ووایي چې کرونا ده، نو خلک به یې په اړه څه وایي. لېوره ته یې وویل: لالا زه خو وایم چې نن مې تر ماښامه پرېږدئ، لږ اوماچ به پوخ کړم، تود تود به یې وڅښم، که خدای کول ورسره ښه به شم.

مېړه یې ورغبرګه کړه:


-ښځې ډېره سرزوري مه‌کوه، نور به درنه ونیسي. راځه چې ورشو هلته به دې سم علاج وشي.

ښځې خپل زړه ته تسلي ورکړه او بیا یې له ځانه سره خپل یو یو عمل تر سترګو تېر کړل. تل یې خیر او خیرات کاوه، له مېړه او خسرګنۍ سره یې ښه وخت تېر کړی و او خواښې یې د مرګ تر ورځې ورته دعاوې کولې. د کلي ښځو به هر وخت ورته ویل چې د خواښې دعا دې اخیستې او خدای به دې په هېڅ میدان نه‌خواروي. په زګیروي راپورته شوه، د کوټې په کنج کې صندوق ته وروښښېده، پاک ټیکری یې راواخیست په سر یې کړ او له کوټې راووته.

د زابل ولایت مرکزي روغتون ته چې ورسېدل، لومړی یې ټېسټ ترې واخیست او بیا یې د بستر اتاق ته بوتله. په چپرکټ کې داسې ترهېدلې کېناسته لکه چا چې په زور کېنولې وي.

نرس د اکسیجن ډبه اتاق ته رادننه کړه او دا یې په کټ پرې ایسته، ماسک یې ورته وتاړه او د ساه اخیستل یې لږ ورسره اسانه شول.





په روغتون کې درې ورځې بستر وه او ډاکټرانو یې هر شیبه پوښتنه کوله. درېیمه ورځ یې مېړه او لېور هم اتاق ته ور دننه شوي وو او دې چې سترګې پرانیستې، نو یو ډاکټر یې سرته ولاړ و. ښځې اوس هم ټوخل او د ټوخي په منځ منځ کې به یې یوه یوه خبره هم کوله.

ډاکټر ترې وپوښتل: څنګه یې خورې؟ اوس دې صحت تر پخوا ښه شوی دی او که څنګه؟

- هو خدای مو راته لره، خدای مو مه‌کموه، بېګاه شپه مې ایله چې لږ دمه وشوه. داسې تبه او د ځان درد مې تر اوسه په خپل عمر کې نه‌و لیدلی.

لېوره یې ټوکه پرې وکړه:

-ښه نو ته خو روغتون ته نه‌راتلې.

-هو، خود نه راتلم، تاسو ویل چې کرونا یم، هغه دی شکر چې کرونا نه‌وم.

ډاکټر وپوښتل:

-ښه نو ته کرونا نه یې؟

-نه، که کرونا وم، نو اوس به مړه وای.

-داسې نه ده خورې چې کرونا به له یوه مخه ټول وژني. ستا د ټسټ نتیجه مثبته ده، ته کرونا یې او کله چې کور ته لاړې، نو له ټولو سره به ګوزاره کوې. په ځانته کوټه کې به ناسته ولاړه کوې او خپل لوښي به له نورو بېلوي.

-وی ډاکټر صاحب، نو ته خو زما د ورور پر ځای یې. زه خو پنځه وخته لمونځ په وخت کوم، د مېږي زړه مې خدای که ازار کړی وي، خیر او خیرات مې چې څومره په وس کې وي، ورکوم یې.



مېړه یې خبره ورپرې کړه او په لوړ غږ یې ورته وویل:

-دا نو په ډاکټر صاحب پورې څه اړه لري؟ چې ته لګیا یې او ورته وایې.

-خو نو دی وایي چې کرونا یې. زه خو شکر دی مسلمانه یم.

ډاکټر په نرمه ژبه وویل:

-خورې، کرونا یوه ناروغي ده او هر څوک پرې اخته کېږي. دا د کافر او مسلمان خبره نه‌ده. ته هسې چا غلطه کړې یې.

دې چې له مېزه خپل ایښي توکي راټولول وویل: نه پوهېږم ډاکټر صاحب، خدای مې دې ایمان نه خرابوي.

دوې اوونۍ یې په کور کې قرنطین وکړ او بل څوک یې په کور کې کرونا ونه‌نیول. له هغې وروسته به یې هر وخت د ډاکټرانو له ښې رویې خلکو ته ویل او دا به یې هم ویل:

-ډاکټرانو ویل چې کرونا کافر او مسلمان ټول نیسي. زه یې هم ونیولم.



# اندېښنه

د معلـم صاحـب اندېښـنه ورو ورو پـه لـوی وسـواس بدلېـده او ټولـه شـپه بـه ورسره همـدا فکـر و چـې څـه وکـړي؟ د شـپې ناوختـه و، لـرې کلیـوال یـې چـې ډاکټـر و فکـر تـه ورغـی، پـه کتابچـه کـې یـې د هغـه مېـره پسـې وکتلـه، خـو پیـدا یـې نه‌کـړه. بیـا ورپـه زړه شـول چـې څـو ورځـې مخکـې یـې ده تـه زنـګ وهلـی و، ټیلیفـون یـې هـم پسـې وکـوت او یـوه بې‌نومـه شـمېره یـې تـر سـترګو شـوه، ژر یـې ورتـه زنـګ وواهـه.

ـبلې معلم صاحب څه حال دې دی؟

-بلې د تره زویه، ته یې، شمېره دې رانه ورکه وه.

-ښه، ښه، جوړ په خیر څه حال دی؟

- د حـال پوښـتنه مه‌کـوه، څـه بـه درتـه وایـم، داسـې یـې وګڼـه چـې دا د کرونـا اندېښـنه بـه مـې روغ لیونـی کـړي.

-هههـه، خـدای دې نه‌کـړي، تـه خـو تکـړه سـړی یـې. خـدای دې

خیر کړي، چرت دې مه‌خرابوه.

-یاره، تکړه به وم یا به نه‌وم، خو دا څو ورځې د کرونا اوازو داسې پسې اخیستی یم، وایم که مې ونیسي نو څه به کوم؟ واړه ماشومان مې ګوره او دا خو لا څه کوې چې نن مې د کور سودا هم واخیسته. ما ویل که مې کرونا مړ کړي، نو یوه میاشت خو به په نس ماړه وي. خدای خبر چې له هغې وروسته به څه کېږي؟

د تره زوی یې ورغبرګه کړه:

-نه خدای دې نه‌کړي. داسې هم نه‌ده لکه ته یې چې وارخطا کړی یې. که احتیاط ورسره وشي، ډېره نه‌خپرېږي او ترې رغېدلی هم شو. لا خو په هلمند کې دومره ډېرې پېښې هم نه دي ثبت شوې.

-بس خدای مو دې ورسره پردې کوي، دا دوې ورځې داسې ګومان کوم چې لړ لړ تبه مې ده.

-نه داسې به نه‌وي، تشویش کوې ځکه داسې فکر کوې چې تبه دې ده.

***

د ده اندېښنه پر ځای وه، ځکه سبا یې سپکه غونډې تبه شوه. بازار ته په سودا پسې وتلی و، پښې یې بې سیکه وې او خولې پرې راماتې. څه ناڅه په ځان پوه شو او په بیړه کورته لاړ. د لمر خاته خواته کوټه چې ور یې حویلۍ ته خلاصېده د ځان له‌پاره بیله کړه.

یوه کوزه، یو سطل، جای‌نماز، بوټان، یو ترموز او پیاله یې ځان ته بیل کړل او د کوټې په دهلیز کې یې د ځان له‌پاره کېښودل او بیا یې ښځې ته ور غږ کړل:



- له دې وروسته به ماته په دې دهلیز کې خواړه او ډوډۍ ږدئ، لوښي هم په خپله مینځم او نور به له ما سره غرض نه‌کوئ.

ښځې یې چې په حیرانۍ د ده کارونو ته ځیر وه، ورغبرګه کړه:

-خدای ته وګوره سړیه، دا څه نوې نخرې دې چې کوې یې؟ خلک به څه وایي چې ولې یې داسې ځان ګوښه کړی دی.

سړي یې ځواب ورنه‌کړ او ور یې په ځان پسې پورې کړ.

په هغه ورځ یې تبه نوره هم ډېره شوه، د ځان درد یې هم ورسره پیدا شو. غرمه یې ښځې ډوډۍ ورته د وره په خوله کې کېښوده او غږ یې پرې وکړ:

-سړیه څه حال دې دی؟ ډوډۍ مې درته د دروازې تر شا ایښې هغه درواخله.

حیران و چې څه ځواب ورکړي، تبه یې یو څه را کابو شوې وه، خو ډار یې شیبه په شیبه زیاتېده. دی هم نه‌پوهېده چې حال به یې له دې بد شي او که به ښه شي. زړه نا زړه یې ځواب ورکړ: ښه یم، اندېښنه مه‌کوه.

څو شیبې وروسته ورغی د ډوډۍ پتنوس یې راواخیست. له ډوډۍ یې ګوله جوړه کړه، خو له ستوني یې نه تېرېده. نور هم وارخطا شو او په بیړه یې جیب ته لاس کړ، ټلیفون یې راواخیست او د تره زوی ته یې زنګ وکړ:

-بلې، د کاکا زویه اورې؟

-بلې معلم صاحب، جوړ په خیر، څه حال دی.

-د کاکا زویه، زما اندېښنه لکه چې رښتیا شوه، نن مې ځان ډېر درد کوي او تبه مې هم ده. لاره راښییه چې څه وکړم؟

-ګوره معلم صاحب، وارخطا کېږې به نه. که ځان سم قرنطین کړې، هم دې ځان ته ګټه ده او هم نورو ته.

-اوس د درد له‌پاره یوه چاره راته وکړه هېڅ ارام نه‌لرم، ټول وجود مې خوږېږي.

-زه همدا اوس یوه نسخه دوا د چا په لاس دراستوم.

لږ ځنډ وروسته دروازه وټکېده او ماشومانو ورمنډې کړې. څو شېبې وروسته یې واړه زوی یوه کڅوړه له کړکۍ ورته ځوړنده کړه، او ویې ویل: اغاجانه، اغاجانه، د ډاکټر کاکا زوی راغی او دا دوا یې راکړه. ویل یې چې دا د معلم صاحب دوا ده.

معلم د دوا کڅوړه ترې واخیسته او په ماشومانو یې غږ وکړ: ځئ دننه لاړ شئ او دلته شورماشو مه‌جوړوئ!

په پلاستیکي کڅوړه کې پراستامول گولۍ، دوه ډوله نورې د درد گولۍ او یو بوتل د اشتها شربت وو. د غرمې ډوډۍ یې څو شېبه مخکې خوړلې وه، دوا یې هم پسې وخوړه او د کوټې په منځ کې رالویدلي لمر ته وغځېد. لمر او د درد گولیو یو څه خولې کړ، وجود یې ورسره لږ سپک شو او خوب یوړ.

ورځ یې لږ ښه تېره شوه، خو ماښام یې بیا سخته تبه شوه، ټول ځان یې د تبې په اور کې سوځېده. ستوني یې سوی کاوه او دماغونه یې هم وچ وو او له هر ځل ساه اخیستلو سره به یې سوی کاوه. زوی یې ورته یو قاب وریجې او یوه کاسه مستې راوړې. همدا چې د کوټې دروازه یې خلاصه کړه، وربانډې یې بړچ وهل:

-همدلته یې د وره په خوله کې کېږده، زه یې خپله را اخلم، له دې وروسته کوټې ته دننه رانه‌شې!

خواړه یې زړه ته نه‌کېدل، د غوړیو بد بوی یې تر سپوږمو شو، د ډوډۍ پتنوس یې د کوټې په تاخچه کې کېښود. درد یې ساعت په ساعت زیاتېده، د شپې یوولس بجې به وې چې ښځې یې د



کړکۍ تر شا ور غږ کړل:

- سړیه، څه حال دې دی؟ د ډوډۍ پتنوس یې چې ولید، نو لږ یې په لوړ اواز وویل: ډوډۍ خو دې هم نه‌ده خوړلې، داسې خو به دې مریضي نور هم کمزوری کړي.

ده ورغبرگه کړه: نه‌کېږي، ځان مې ډېر درد کوي، هېڅ مې زړه ته نه‌کېږي.

ښځه یې وارخطا غوندې شوه، ویې ویل: سبا یو ځل ډاکټر ته ورشه چې سم علاج دې وشي. زه به مې لالا ته زنگ ووهم چې سهار وختي راشي.

-نه اوس ورته زنگ مه‌وهه، نیمه شپه ده. تر سبا که ښه نه‌شوم، بیا خپله ورته زنگ وهم.

سبا یې تبه نوره هم پسې ډېره شوه، له ځان‌درده په کوټې کې گرد تاوېده او طاقت یې نه‌کېده. د غرمې مخې ته یې د ښځې ورور راغی او د کړکۍ تر شا یې وربانډې غږ وکړ: معلم صاحب شفا دې وي، لکه چې ناروغ یې؟

-ولا اشنا څه درته ووایم، داسې درد مې په ټول کې عمر نه‌و لیدلی، بس دعا کوه چې خدای دې د چا دښمن هم پرې نه اخته کوي.

-راځه چې یو ځل ډاکټر ته ورشو. څه دارو درمل به درکړي چې لږ دې دا درد ورسره راکم شي.

-کور دې ودان، ډاکټران وایي چې کوم خاص درمل نه‌لري، بس یو څو شپې د درد او تبې سختۍ تېرې کړئ. هغه زموږ د اکا زوی، ډاکتر صاحب ته دې خدای خیر ورکړي پرون یې د درد او تبې دوا راولیږله، خورم یې، گوندې ورسره ښه شم.

-خوښه دې خپله، که موږ ته کوم خدمت وي، نو امر کوه.

-کور دې ودان.

معلـم پـه هغـه ورځ هـم سـخت دردونـه تېـر کـړل او نـور يـې د گوليـو لـه خوړلـو سره هـم درد نه‌کمېـده. گومـان يـې کاوه چـې لـه دې مرضـه بـه ونه‌رغېـږي. وړه کوچنـۍ راديـو ورتـه پـه کوټـه کـې چـالان وه. يـو ډاکتـر د کرونـا پـه اړه غږېـده او اورېدونکـو تـه يـې سپارښـتنې کولـې:

-پـه کـور کـې ځانونـه قرنطيـن کړئ، لـه نـورو څخه واټـن واخلـئ. دا ناروغـي درمـل نه‌لـري، کوښـښ وکـړئ چـې گـرم مايعـات وڅښـئ او داسـې خـواړه وخـورئ چـې ويټامينونـه ولـري.

دی پـه کوټـه کـې گرځېـده- راگرځېـده او لـه درده يـې طاقـت نه‌کېده. د ځـان درد، د سـتوني سـوی، د پـزې او دماغونـو وچېـدل او سـخته تبـه، ټـول يـو ځـای پـرې راغلـي وو او پـه ده بانـدې يـې ژوند سـخت کـړی و.

بلـه ورځ هـم تېـره شـوه، خـو د بهبـود کـوم څـرک نـه‌و او ناروغـي يـې پسـې سـختېدله.

پـه درېيمـه ورځ، غرمـه مهـال يـې اوښـی بيـا راغـی او يـو بوتـل هـم ورسره و. پـه کړکـۍ کـې ودرېـد او تـر سـلام وروسـته يـې څنـې وپوښـتل:

-معلم صاحب څنگه يې؟

دی چـې پـه بړسـتن کـې پـروت و او رنـگ يـې لـه ډېـر درده تـک تـور اوښـتی و، ورغبرگـه کړه:

-وعليکـم، يـاره پوښـتنه يـې مه‌کـوه، نـور مـې نـو طاقـت نه‌کېـږي، گومـان نه‌کـوم چـې روغ شـم. خـدای دې هېڅـوک پـه دې مـرض نه‌اختـه کـوي.

ښـځه يـې چـې د ورور تـر شـا ولاړه وه، پـه ژړغـوني غـږ وويـل:





خدای دې نه‌کړي، دا څه وایې سړیه؟ موږ مه‌وارخطا کوه، همدا اوس ډاکتر ته لاړ شه چې نوره دوا درکړي.
ورور یې خبره ورپرې کړه:
-ډاکتر ته یې حاجت نه‌شته. داسې درمل مې راوړي چې ورسره رک روغ به شي. بیا یې د بوتل سر خلاس کړ او ورته یې وویل:
- ته دې دا ګیلاس راوړاندې کړه.
معلم صاحب له لرې ګیلاس ورته د کوټې په کړکۍ کې کېښود، بوتل ته یې وکتل، بیا یې وپوښتل:
- دا څه شی دي؟
-دا د حکیم صاحب درمل دي، رک روغ به دې کړي.
-ورباندې مړ مې نه‌کړې.
-ته خو یې وڅښه که څه درپېش شول، تاوان دې پر ما.
معلم صاحب د ګیلاس له تور رنګه مایع څخه دوه غړپه وکړل، د خامو تریاکو په څېر خوند یې ورکړ. زړه یې ورسره راپورته شو، خو خوا یې ونه‌ګرځېده.
څو شیبې ورسته یې ځان داسې تود شو لکه د بخارۍ تر څنګ چې ناست وي. دردونه یې ورک شول او د ارام احساس یې وکړ. د لږ ساعت له‌پاره ویده شو او ورځ یې لږ ښه تېره شوه، خو چې ماښام شو بیا یې د ځان دردونه پیل شول. ښځې یې په وره کې ورته یوه کاسه یخني، وچه ډوډۍ او یو قاب واړه کړي خام پیاز کېښودل، او بیا یې ورته وویل: غږ مې اورې؟ دا دی ډوډۍ مې دلته درته کېښوده. د کوټې په کړکۍ کې د غرمې ډوډۍ نامینځلي لوښي لاهم ایښي وو. د ښځې یې چې ورته پام شو نو ویې ویل:
- درته وایم چې زه به درشم او لوښي به درنه راټول کړم، خو



ته مې نه‌پرېږدې.
د ده په زړه خبرې نه‌کېدې او ژامې یې سره نښتې وې، خو د زړه په زور یې ځواب ورکړ:
-نه، نه زه یې سبا خپله مینځم، لمر ته یې بږدم، چې لمر ووهل بیا یې یوسه. هسې مې هم ډوډۍ زړه ته نه‌کېږي.
-ډوډۍ چې ونه‌خورې نو په څه به جوړ شې؟ یوه غوټه پیاز مې هم ورسره ټوټې کړ چې د خولې خوند دې ورسره ښه شي.
څو شیبې یې غږ ونه‌کړ، بیا یې پټنوس په ډېره سختۍ د غولي تر منځه راوړ، ډوډۍ یې زړه ته نه‌کېده، فقط وچه ډوډۍ یې له پیاز سره وخوړه، پیاز تریخ و او پزه یې وسوځېده. بیا یې دوې ټوټې وور کړی پیاز له ډوډۍ پرته وخوړ، ورپسې یې له کړکۍ د خپل مشر زوی نوم واخیست. عبدالرحمانه، او عبدالرحمانه. زوی یې له بلې کوټې راووت او ویې پوښتل: اغاجانه څه دې ویل:
-یو دوه غټ غټ پیاز درسره راوړه.
زوی یې دوه غټ پیاز راوړل او قاب یې له لرې په کړکۍ کې کېښود. پیاز په کړکۍ کې و او د ده له وسې نه‌کېدل چې ورشي او راوایې خلي. هماغه لږ پیاز چې په قاب کې پروت و، له هماغه سره یې څو ګولۍ ډوډۍ وخوړه. دوه، درې ساعته ویده شو. نیمه شپه به وه چې بیرته راویښ شو. ټلیفون یې روښانه کړ، د شپې یوه‌نیمه بجه وه. شپه تیاره او درنه وه. د ده دردونه بیا پیل شول. لږ لږ یې ساه‌لنډي هم پیدا شوې وه او ساه یې بندېده. کله یې چې ځانته پام شو چې ساه یې هم بندېږي، نو وډار شو چې ښایي تر سهاره پاتې نه‌شي.
په وارخطایۍ له ځایه پاڅېد او پیاز یې راواخیستل، شاوخوا یې وکتل د دوا کڅوړې ته یې پام شو. دوا یې ترې په کړکۍ

کې کېښوده او پیاز یې په کڅوړه کې واچول، بیا یې په ورسره ګیلاس، پیاز د کڅوړې په منځ کې ښه وټوکل، د کڅوړې خوله یې خلاصه کړه، د پیازو وږم یې سپږمو ته ورنږدې کړ، ښه ډېر ساعت یې د پیازو بوی په سپږمو کش کړ او ورسره یې د ستوني او پزې سوزش په کرار شو. لږ ورسره ښه شو. سر یې په بالښت کېښود تر څو وازمويي چې ساه یې بندېږي او که نه. ساه یې نه‌بندیده او زړه یې لږ تکیه شو. د ملا له اذانه سره سم راویښ شو او ویې لیدل چې ډېر خولې دی. په انګړ کې یې د ښځې د ټوخي غږ واورېد چې د اوداسه له‌پاره راوتلې وه. خوشحاله شو چې له یوې درنې او سختې شپې روغ راوتلی. شکر یې وایست. ښځه یې راغله د کړکۍ مخې ته یې الکین رڼا کړ او پوښتنه یې ترې وکړه:

-څنګه یې؟ شپه دې څنګه تېره شوه؟ د شپې دې څه شی ټکول؟

-ښه یم، پیاز مې وټوکل، سونږ مې کړل، لږ ورسره ښه شوم.

-دا خو ښه اسانه دوا ده، زه به اوس درته نور پیاز هم وټوکم.

څو شیبې وروسته یې ښځې په یوه لوښي کې ټوکلي پیاز راوړل او په کړکۍ کې یې ورته کېښودل.

ده راواخیستل او تریخ بوی یې په سږمو کش کړ. د سهار چایو پر وخت یې له یخني سره هم یو غټ پیاز وخوړ. پیاز داسې تریخ و چې د ده اوښکې یې راوبهولې.

اوس یې هم ساه بندیده، خو دومره ورسره په تکلیف نه‌و. تر ماښامه یې څو ځله میده کړې تازه پیاز په سپوږمو کش کړ او له هر ځل سره یې ځان ښه احساسوه. په هغه شپه یې پرله پسې شپږ ساعته خوب وکړ. نور یې نو د مرګ ډار له زړه ووت



او په دې پوه شو چې ناروغي یې په رغېدو ده. همداسې یې د پیازو او نورو ګټورو خوړو خوړلو ته دوام ورکړ او پنځلس شپې نورې یې هم په قرنطین کې تېرې کړې. په شپاړسمه ورځ یې قرنطین مات کړ او حویلۍ ته راووت او د خدای شکرونه یې ادا کول چې له دغې خطرناکې ناروغۍ روغ وتلی.



## اول مې نه منله

زه به خپله کیسه درته وکړم!

تـه وایـه ښـه، درې ورځـې مـې رادیـو نـه‌وه لګولـې. لـه دې مخکـې بـه مـې د سـاعت سـتنه څارلـه، همـدا چـې اتـه بجـې بـه شـوې خبرونـه بـه مـې واورېـدل او لـه هغـه وروسـته بـه مـې د ماسـخوتن لمانځـه تـه تیـاری کاوه. پـه هغـه ورځ مـې چـې زوی کـور تـه راغـی، نـو راتـه یـې وویـل:

- اکاجانه ښه ده چې په دې ورځو کې دباندې ونه‌وځې!

پـوه شـوم چـې هماغـه پخوانـی سرینـده راتـه غـږوي، ورغبرګـه مې کړه:

-څـه خـبره ده؟ بیـا څـه ټکـه رالوېدلـې چـې دبانـدې بـه نه‌وځـم او کوټـه قلفـي بـه وم.

په خپله خبره لږ څه وشرمېد او بیا یې پسې زیاته کړه:

- نـه، اکاجانـه خـدای دې نه‌کـړي، داسـې مـې نه‌ویـل، خـو وایـې

دا نوې ناروغي چې راغلې په ټوله دنیا کې یې په عمر پاخه خلک، یا هغوی چې له مخکې بله کومه ناروغي لري، ډېر په عذاب کړي دي.
له ځانه سره مې وویل، همداې یې ډېر ښه وخت دی چې زړه وباندې تش کړم. په ځای کې راسم شوم او خوله مې ورخلاصه کړه:
-د څه شي ناروغي ده!؟ دا د خدای قهر دی قهر، چې په خلکو رانازل شوی. تر څو چې خپل اعمال سم نه‌کړي داسې عذابونه به ورباندې راځي.
-اکاجانه چې هر څه وي د خدای قهر او یا عذاب، پخوا هم دغسې کومه وبا راغلې وه او ته یې خپله وخت ناوخت کیسې راته کوې.
-هو، ښه مې په یاد ده، خو هغه وخت د خلکو په ایمانونو کې زور وو، هغه دی له مور څخه دې پوښتنه وکړه.
په یوه برېستن کې دې شپږ خویندې او ورونه پراته وو او ټول سرخکانو نیولي وو. درې شپې یې چې پوره شوې یو ورور دې چې له ټولو مشر و سهار مړ شو، دوې خویندې او یو ورور دې د سبا ورځې تر ماښامه مړه شول. بل سبا یې بله نجلۍ پسې مړه شوه او وړوکې دوه کلن هلک بریځر بې‌حاله شو او د ګل په څېر مړاوی پروت و. اخر دې مور په برېستن کې تاو کړ او کلک یې په غېږ کې ونیو، نوی یې پل اخیسته خو چې ناروغي یې سخته شوه له تګ پاتې شو. بیا مې هېر دې چې د هغې ورځې په ماښام که په سبا ماښام هغه هم خدای ورواخیست. مور دې برېستن تک وهله او د کوټې په کونج کې یې ونغښته. بس د خدای رضا مو په سترګو ومنله او الله ته



مو صبر وکړ.
نه مو یو له بله منډې وهلې، نه مو لاسونه مینځل، نه مو له یو بله وربوز تاووه. دا د کفارو رواجونه مو نه‌کول څه چې خدای راپېښول په هغه کې مو خپل خیر لیده. د خدای بې امري مو نه‌کوله.
لا مې هم زړه تش نه‌و، څومره چې غږېدم قهر او غوسه مې هم پسې زیاتېدله. ټول غلي ناست وو، هیڅا غږ نه‌کاوه. زوی مې د قالینې له مخې خځلې راټولولې او سر یې خوځاوه. نږور مې له پخلنځي په واړه زوی غږ وکړ: هلکه راشه دا دسترخوان دروړه چې ډوډۍ سړېږي. د ډوډۍ پر وخت مې ټولو زامنو او لمسیانو په بې‌اشتهایۍ ډوډۍ خوړله، داسې ښکارېده چې زما له چلنده خوښ نه‌وو. پوه شوم چې زیاتي مې کړې، خو بیا مې هم ځان ته حق ورکاوه. که مې داسې نه‌وای کړي، نو دوی دا خبره نه‌پرېښوده او زه یې هم په ګناه کې ورسره شاملولم.
سهار چې چای وڅښل شو، پاڅېدم او واسکټ مې واغوست، نو په کشرې نږور مې ورغږ کړ: لورې هغه کلوشې مې راکړه چې لاندې کلي ته ځم. لاره یې ستوغه ده ایله ورسېږم. زوی مې بیا راباندې غږ کړ: اکا زه هم لاندې کلي ته ځم، راځه موټر کې به دې ورسوم. زما چې بیګانۍ غوسه لاهم نه‌وه سړه شوې، نو په قهرجنه لهجه مې ورته وویل:
-ته ما څه کوې؟ ته دې خپله لار وهه.
-هسې ما ویل چې لاره به درته اسانه شي.
-زه ستا په خبرو ښه پوهېږم، ته له خپلې بې‌دینۍ نه‌اوړې.
-ګوره اکاجانه عذر درته کوم، په غم مو مه‌اړوه.
-بس نو دا د بې‌دینۍ زور دې که و، نو تاسو به مې په لوی غم

اخته کړئ.

-ښه نو چې له ماسره نه‌ځې، دا خو ووایه چې چېرته ځې؟

- بس هر چېرته چې ځم، ځم به.

له دې سره له کوره راووتم او د لاندې کلي لاره مې ونیوه او په دمه دمه مې ځان تر کلینیکه ورساوه، ځکه له تېرو څو ورځو راهیسې مې خېټه خوږېده او باید څه دارو درمل مې اخیستي وای.

د کلینیک ډاکټر نه‌و راغلی، څو تنه نور هم ورته په تمه ناست وو. ویل یې چې کلات ښار ته د کومې غونډې لەپاره تللی دی. کلینیک له کلات ښاره ډېر لېرې نه و. د کلینیک مخې ته پیټاوي ته له دوو نورو سپین‌ږیرو سره کېناستم چې راشي او لږ دوا راکړي. که مې رښتیا پوښتی دا ډاکټر راباندې د زوی په څېر گران دی. په ناروغۍ مې ډېر ښه پوهېږي. همدا چې ورته راشم یو دوه پاکټه گولۍ یا یو بوتل شربت راکړي، ورسره رک روغ شم. تېر ځل مې چې معده خوږېده، ورته راغلم ډېره ښه دوا یې راکړه او دا ډېره موده ورسره ښه وم.

څو ورځې دمخه مې د لاندې غوښه خوړلې وه، لکه چې هماغه راباندې بده لگېدلې وه او اوس چې هر څه خورم د معدې په سر مې ولاړ وي. ما ویل چې یو ځل بیا لږ دوا راکړي.

لا به یو ساعت نه‌و وتلی چې له لرې یو موټر راښکاره شو. یو چا وویل:

-هغه دی لکه چې ډاکټر صاحب راغی.

د کلینیک کارکوونکی له کلینیکه راووت، د لمر خاته له خوا راروان موټر ته یې وکتل، سم نه ښکارېده، یو لاس یې سترگو ته ونیو بیا یې بل لاس په ټنډه کېښود، ویې‌ویل:



-نه دا د ډاکټر صاحب موټر نه‌دی.

ما ورغبرگه کړه:

-د بل چا په موټر کې به تر دې ځایه راغلی وي.

موټر رالنډ شو او د کلینیک مخې ته یې سپېرې دوړې پورته کړې.

ځلور تنه ترې را کوز شول. یو د کلینیک ډاکټر و، دوه تنه نور وو چې سپینې چپنې یې اغوستې وې او ډاکټران ښکارېدل، یو هم موټروان و. زموږ د کلینیک ډاکټر ښه و خو درې تنه نور چې ورسره وو، درې سرو وربوزونه په سپینو ټوټو تړلي وو.

زما هم زړه طاقت ونه‌کړ، له لرې مې ورباندې ناره کړه:

-دا څه د کفارو شی مو په خوله پورې تړلی دی، څه خبره ده؟

د کلینیک ډاکټر چې له ما سره بلد و، ویې‌خندل، ورسره دوه نورو ډاکټرانو یو بل ته حیران دریان وکتل. یو ډاکټر پښه نیولی شو. د کلینیک له ډاکټره یې پوښتنه وکړه:

-خیر خو به وي، بابا ولې داسې په قهر دی؟ ډاکټر په ځواب کې ورته وویل:

-دا زموږ د پاس کلي اکا دی. موږ ورسره بلد یو. راځه کومه خبره نه‌شته. زه هم راپورته شوم او بیا مې ورباندې اواز وکړ:

-دا مول دې چې وهلی دا به دې د خدای له قهره خلاص کړي؟

هغه بل ډاکټر چې په عمر کې له نورو مشر ښکارېدو خبره یې را پرې کړه او ویې‌ویل:

-اکا دا نوې ناروغي چې خپره شوې، د ماسک په وهلو ځان ترې ساتلی شو او که بل څوک یې نیولي وي بیا موږ ته سرایت نه‌کوي.

-هو، هو دا مې اورېدلي، هره ورځ دا شیطانتونه په راډیوگانو کې

د خلکو غوږونو ته رسوي. څه شی دی، کرولا ده کرولا.
زما په دې خبرې څو تنه نور چې د کلینیک مخې ته ناست وو، کرس کرس په خندا شول، ډاکټر لږ غوسه غونډې شو او په ستوغه یې وویل:
-اکا کرولا نه کرونا، دا ډېره خطرناکه مریضي ده، که یې یو کس په کور کې ونیو، نو کېدای شي ټول کور ترې ونیسي. ټوله دنیا یې وارخطا کړې ده.
-د ټولې دنیا خلک له خدایه نه‌ډارېږي ځکه خو مرض وارخطا کړي دي. بچیه، مرض خدای راوستی او علاج یې هم له هغه سره دی، نو د څه له‌پاره ترې وډار شو، بس عقیده مو سمه کړئ نور به هېڅ نه دربانډې کېږي.
ډاکټران په خپلو کې سره وپسېدل، هماغه ډاکټر رانه پوښتنه وکړه:
-ښه اکا دا خبرې پرېږده، دا راته ووایه چې کلینیک ته د څه له‌پاره راغلی یې؟
-ګېډه مې خوږېږي. ګېډه ده که معده ده، خو داسې کلکه خوږېږي چې هر څه خورم، نو زړه ته مې نه‌کېږي.
د کلینیک ډاکټر راته وویل:
- اکا لکه چې هماغه پخوانی د معدې مرض دې دی.
-ای شاباس! هماغه مرض مې دی، تېر ځل دې چې دوا راکړې وه ډېره ښه رابانډې ولګېده. یو ځل بیا مې معاینه کړه او هماغه دوا راکړه.
مشر ډاکټر چې په چرت کې ولاړ و، راته وویل:
-اکا نو څنګه د معدې مرض له‌پاره دوا اخلې؟
-بس نو همدا یې علاج دی.




-نو د معدې علاج چې کوې د کرونا علاج ولې نه‌کوې؟
-ګوره بچیه داسې خبره ده چې هغه مرض خدای راوستی او خدای به یې په خپله لرې کړي.
-نو د معدې مرض خو هم خدای دربانډې ایښی.
-ته هم ښه وایې خو...
-اکا ویې منه.
د ډاکټر خبره مې یو څه زړه ته ولوېده او په کراره مې ترې وپوښتل:
-ښه نو دا څه ډول مرض دی چې داسې یې وارخطا کړي یاست؟
ډاکټر مې خواته رانږدې شو او راته یې وویل:
-اکا دا مرض اول کې ډېر ساده زکام ته ورته دی، خو که په چا سخت شي نو وژلی یې هم شي.
-ښه دا خو به درسره ومنم چې سخت مرض دی، خو دا خولې او پوزې مو د څه له‌پاره تړلې وې؟ یا وایاست چې جومات ته مه‌ځی، هسې نه چې په همدې بهانه په خلکو د جومات لمونځ بند کړئ.
-ولې په اسلام کې خو یې ویلي چې که چا پیاز یا هم اوږه خوړلې وي، نو جومات کې دې د چا خواته نه نږدې کېږي چې نور خلک یې د خولې له بوی څخه په تکلیف نه‌شي، نو دلته خو د تکلیف په ځای کېدای شي چې یو کس کرونا نیولی وي او په جومات کې نور کسان پرې اخته کړي. دا د دې له‌پاره چې د یو بل د خولې له تنفسه مو مرض ونه‌نیسي او که بل څوک دا مرض لري چې موږ ته رانه‌شي.
-نو داسې چې ده په راډیو کې خو همدا وایي چې لاسونه مو


COVID-19

بیا بیا په صابون ومینځۍ، دا یې هسې ډرامه جوړه کړې.
-نه اکا هغه ډرامه نه‌ده. موږ څه خبر یو چې د دې مریضۍ د ناروغ لاسونه په څه څه لګېدلي دي، نو د دې له‌پاره ښه ده چې لاسونه هر وخت پرېمنځو چې که د مرض میکروب مو په لاسونو کې وي خولې او پوزې یا سترګو ته یې ورنه‌وړو.
ډاکټر هوښیار سړی ښکارېده، خبرې یې راته سمې ښکاره شوې.
د کلینیک ډاکټر هم معاینه کړم او دوا یې راکړه. کرار کرار د کور پر لور روان شوم.
په لاره کې مې له ځان سره فکر کاوه چې که هغه وخت داسې یوه ډاکټران وای، نو دومره ماشومان به په یوه سرخکان او شنه ټوخله نه‌مره کېدل، افسوس مې وکړ.
له ځان سره مې وویل چې ولې مې دا خبره له مخکې فکر ته نه‌راتله. فکر مې وکړ چې که کرونا مې ونیسي او بیا ټوله کورنۍ زما د بې‌پروایۍ له امله ناروغان شي، نو څه به کوم.
همدې فکرونو مې لاره دومره رالنډه کړه چې هېڅ پوه نشوم څنګه کورته ورسېدم. د کور په دروازه کې مې کوچنی لمسی ولاړ و. زما په لیدو یې مخې ته رامنډه کړه او غږ یې رابانډې وکړ: بابا، بابا، ماته دې څه راوړي؟
منت مې پرې وکړ او ورته مې وویل:
-نږدې مه راځه د خیرن بچیه، ورشه په بدنۍ کې اوبه راوړه چې زه مې لاسونه ومینځم. لمسی مې نازولی دی، ستوغه خبره یې نه‌خوښېږي د کور پر لور روان شو، په نږور مې غږ وکړ:
-لوري هلک ته لږ اوبه او صابون ورکړه چې زه مې دا لاسونه پر ېمینځم .



نږور مې له کوټې راووته او په ناباورۍ یې راته وکتل. ما غږ پرې وکړ:
-داسې حیران حیران مه راته ګوره. دا مرض ډېر بد مرض دی ځانونه ترې ساتۍ چې ومو نه‌نیسي. ته هم ډېره چم ګاونډ ته مه‌ځه چې کور ته یې رانه‌وړې.



# غنمرنگه

دا مېرمـن چـې زه اوس ورتـه زنـګ وهـم، د ارزګان ولایـت پـه لیـرې پرتـه ولسـوالۍ کـې اوسـېږي او د کرونـا ناروغـي تېـره کـړې. پـه دې اړه بـه تـرې وپوښـتو چـې څنګـه کرونـا ونیـوه او څـه یـې ورسره وکـړل:

-بلې!

-بلـې، سـلام علیکـم، تـرورې کـه اول خپـل ځـان راتـه معـرفي کـړئ او بیـا دا راتـه ووایـئ چـې کرونـا څنګـه ونیـوئ او څنګـه پـرې پـوه شـوې؟

-وعلیکم سلام، نوم مې غنمرنګه دی، غنمرنګه!

-ښه کرونا څنګه ونیوې؟

دا خـو داسـې خـبره وه چـې پـه هغـه ورځ مـې د شـپږو توشـکو مالـوچ وټکولـو، خـو مالـوچ لا پاتـې وې. لـه انګـړه مـې د کـور پـه

مېرمـن بانـدې ور غـږ کـړل چـې خـورې، پاتـې مالـوچ بـه سـبا تـه وشـینم، اوس ځـم چـې ایلـه کورتـه ورسـېږم.
وروره زه کونـډه ښـځه یـم، پنځـه واړه بچیـان لـرم چـې لـږ ځنـډ وکړم بیـا پـه دروازه کـې ولاړ وي او لاره مـې څـاري.
-ښـه، ښـه! هـو، د کـور مېرمنـې راتـه وویـل ستونزه نه‌شـته، ورځـه لاړه شـه، خـو چـې سـبا وختـي راشـې. د دلان غولـی بـه هـم درسره کاه‌گل کـړې. مـا ورتـه وویـل: وختـی بـه راشـم، خـو تـر غرمـې ایله مالـوچ خـلاص کـړم. بیـا مـې د میـرزا صاحـب ښـځې ته ویـلي چې دیوالونـه بـه یـې اخیـر کـړم. د کـور مېرمـن راتـه وویـل: وی خـورې زمـا د دلان غولـی یـوه لوېشـت دی. دسـتي بـه خـلاص شي. مـا هم ورسره اوږده نه‌کـړه مـا ویـل ښـه خـدای بـه خیـر پېښ کـړي. زه اوس لاړم. د خـدای پامـان. لنـډه بـه یـې درتـه وایـم، لـه هغـه ځایـه چـې راووتـم، نـو د کـور پـر لـور روانـه وم، خـو پښـې مـې نـه‌راسره تلـې.
-ښه، نو ستړې وې که څنگه؟
-وی وروره، زمـا خـو همـدا کار دی چـې د خلکـو پـه کورونـو کـې کار وکـړم، غولـی او دیوالونـه یـې کاه‌گل کـړم، مالـوچ ورتـه وټکـوم، کوټـې یـې راپاکـې کـړم. مگـر پـه هغـه ورځ مـې ځـان داسـې پـه درد شـو چـې پوښـتنه یـې مه‌کـوه. کورتـه چـې ننوتـم مـشره لـور مـې پـه انگـړ کـې د نغـري پـه بلولـو بوختـه وه. ورغلـم غـږ مـې پـرې وکـړ چـې وه نجلـۍ څـه شـی کـوې؟ څـو ځلـه مـې درته ویـلي چـې زه د نغـري د بلولـو تـر وختـه راځـم. لا دومـره نـه‌ده لویـه شـوې چـې پـه نغـري کـې اور بـل کـړي. ډارېـږم چـې کومـه ورځ بـه ځـان وسـېزي. هغـه نـو، دې خوارکـۍ راتـه وویـل چـې ابـۍ مـا ویـل تـه بـه هـم سـتړې وې، زه بـه نغـری بـل کـړم او یـو څـه بـه پاخـه کـړم. هغـه زمـوږ گاونډیانـو تـه دې خـدای خیـر ورکـړي، لاسـنیوی مـې کـوي.



کلـه یـوه کاسـه وریجـې یـا دال یـا کچالـو راولېـږي چـې ماشـومانو تـه یـې پاخـه کـړم. پـه هغـه ورځ یـې هـم یـوه لپـه نسـک رالېـږلي و. لنـډه بـه یـې درتـه وایـم دیگـی پـوخ شـو، خـو زمـا تبـه نـوره هـم پسـې ډېـره شـوه. ماښـام مـې واړه ماشـومان پـه ډوډۍ داسـې پـه خوشـحالۍ راتـول شـول لکـه اختـر چـې وي. ټوکـې او مسـتۍ یـې کولـې، خـو زمـا پـه زړه یـې یـوه خـبره هـم ښـه نه‌لگېـده، ورتـه ومـې ویـل:
-بچیانـو ډېـر مه‌غږېـږئ چـې زمـا تبـه ده، سر مـې خوږېـږي. ژر ژر مـو ډوډۍ وخـورئ. کـشر زوی مـې پـه ځـیر ځـیر راتـه وکتـل بیـا یـې غـږ رابانـدې وکـړ: ابـۍ، ابـۍ تـه کرونـا نیولـې یـې. د زمـرک دوی بابـا هـم کرونـا شـوی، نـن یـې کلینیـک تـه بیولـی و. هلتـه یـې بسـتر کـړو. هـا بـس نـو وروره د هلـک دې خـبرې مـې پـه غوږونـو کـې انـگازې وکـړې، دا څـو ورځـې مخکـې مـې د هغـوی پـه کـور کـې ختمـې کـړې وې. زمـوږ کلیـوال دی. راتـه ویـل یـې چـې بسـترې یـې لمـر تـه ورکـړم، غولـی یـې ور کاه‌گل کـړم، یـو دوه دیگونـه مـې هـم ورتـه سـپین کـړل.
-ښه نو ته پوه شوې چې د هغوی له کوره کرونا نیولې یې؟
-هـو، هـو، خلکـو بـه ویـل داسـې مـرض راغلـی چـې کـه د چـا د نـاروغ پـه لوښـو یـا کالیـو لاس ولگېـږي، نـو مـرض بـه یـې ونیـسي. زه د هماغـه هلـک، څـه نومېـږي؟ زمـرک، د زمـرک دغـو کـور تـه ورغلـې وم او د ټـول کـور ختمـې مـې ورتـه کـړې وې. کوټـې مـې هـم ورتـه پاکـې کـړې وې.
-ښه نو ته بیا ډاکټر ته لاړې؟
- نـه بیـا نـو دسـتي چېـرې ډاکټـر تـه تللـی شـوم. زمـا خـو پـه کـور کـې بـل هیڅـوک نه‌شـته. ماشـومان مـې واړه دي. زه کونـډه ښـځه

یم. هم ورته مور یم هم پلار. ما ویل چې که کلینیک ته لاړه شم، نو هلته به مې بستر کړي او بیا به دوی څه شی خوري. زه خو د هر چا په کور کې کار کوم چې یوه ډوډۍ یا هم لږ کتغ راکړي او بچیو ته یې راوړم. نو په هغه شپه مې سخته تبه شوه، داسې تبه مې شوه چې په تنده به مې لاس کېښود ما ویل چې تنور دی تنور. په سبا مې یو ځل له ځانه سره وویل چې لاړه شم او هغه شپږ بالښته پخته به وټکوم او په لرګي به یې هواره کړم بیا به کورته راشم، خو بیا مې له ځان سره وویل چې که زه رښتیا کرونا وم، نو نور مسلمانان هم رانه نیسي. نو هغه و چې په کور کې پاتې شوم او بل مې د ځان له درده چاره نه‌وه چې زه دې یو قدم هم لاړه شم.

-ښه نو بیا کله ښه شوې؟

-ښه چېرې شوم، په څه به ښه شوې وای؟ په کور کې مې یوه ترخه ګولۍ هم نه‌وه چې ویې‌خورم. ساعت چې تېرېده زما تبه او د ځان درد ورسره نورهم ډېرېدل او د هغې ورځې په غرمه د ځان له درده نور په پښو نه‌شوم درېدلی. توخېدم، پرنجېدم او په بد حال وم. بیا نو روانه شوم، یوه دوه قدمه تللې بیا ناسته، په دمو دمو دې لنډ کلینیک ته ورغلم. هلته چې ورغلم د ډاکټرانو یې کور ودان، دستي یې بستر کړم او دواوې یې راکړې. نو بیا مې درې شپې په بستر کې تېرې کړې او لږ رااستواره شوم. بیا مې نو ډاکټرانو ته خپل ټول حال ووایه چې زه تنها سرې کونډه ښځه یم او واړه واړه اولادونه مې په کور کې یوازې دي. ماته اجازه راکړئ چې کورته لاړه شم. ډاکټرانو اول کې نه‌پرېښودم خو بیا مې ورته عذرونه کړل.

بیا نو هغه و چې یوه ډاکټر دې نورو ته مخ ورواړاوه او ورته



یې وویل چې دې خورکۍ ته دوا موا ورکړئ نور یې رخصت کړئ. ماته یې وویل چې که کور ته ځې نو په کور کې به په جلا کوټه کې وې او څوک به نه درپرېږدې.

-ښه نو بیا تا همداسې وکړل؟

-هو نو زه چې بیا کورته لاړم په اول کې خو مې په زړه کې نه و، ما ویل دا واړه کوچنیان به مې د چا درته د یوې ګولې ډوډۍ له‌پاره درېږي. اوس خو یو څه ښه یم لاړه به شم او لږ خواري به ورته وکړم، خو بیا مې له ځان سره ویل چې غنمرنګې که ته ورته ښه شې نو دوی به نه خوارېږي خو که په تا باندې څه وشول نو دوی به د تل له‌پاره د نورو در ته حیران دریان ولاړ وي. زیاتې مې یوه کوټه کې ځان بند کړ او لس پنځلس ورځې له کوره ونه‌وتم. لورانو به مې په کلي کې د چا له کوره یوه ګوله سره یا توده ډوډۍ راوړه بیا به یې له چایو سره د وره په خوله کې راته کېښوده، هماغه به مې وخوړه. کله به په کلي کې چا ورته کوم کاسه کتغ یا پیرکۍ څه شی ورکړي وو، نو هغه به یې راته راوړاندې کړل او وبه مې خوړل. بس نور مې په څه باندې غرض نه‌کاوه. هو، دا به مې اولادونو ته له لرې ویل چې دا کار داسې وکړئ، دا هغسې نور مې نو په یو شي هم لاس نه‌واهه چې ما ویل دوی رانه په مرض اخته نه‌شي.

-ښه، ښه نو ډېر خلک قرنطین نه‌کوي او وایي چې له کار او ژونده پاتې کېږي.

-نه ما خو ځان قرنطین کړ او په خپل ځان او بچیانو مې زحمت تېر کړ، خو نور څوک مې په خوږو اخته نه‌کړل.

-ډېره مننه چې خپله کیسه دې له موږ سره شریکه کړه.

-کور دې ودان!





# ټکسي

له غزني ښخه یې کابل ته د کرونا یوه ټریننګ ته زموږ له روغتونه دوه تنه غوښتي وو. زه او همکار مې یې ورمعرفي کړو، سهار وختي له غزني ښخه راروان شوو، دواړه د موټر په شا سیټ کې کېناستو. همدا چې په سیټ کې ځای پر ځای شوو موټروان ته مې سلام وکړ:

-اسلام علیکم!

موټروان راغبرګه کړه:

-وعلیکم سلام!

د مخې په سیټ کې یو بل کس ناست و. موټر ورو ورو روان شو. ملګري مې ورته وویل: استاذه ولې داسې غلی غلی روان یې لکه چې نوی یې؟

-نه وروره دا مې لسم کال دی چې ټکسي چلوم، خو بس نو

ځنګه یې کوې که دا مخ سیټ ته کوم بل کس راپیدا شي، بس همدا مو غریبي ده.

-څه وایې استاذه ته لکه چې نه یې خبر، په مخکې سیټ کې خو د دوه کسو کېنول منع شوي.

-ښه، تاسو هم په دې خبرو تېروتي یاست؟

-نه ولا استاذه تېروتي نه‌یو. دا مرض ډېر خطرناک دی.

-وه وروره د څه شي مرض؟! دا یې یوه ډرامه جوړه کړې او خلک پرې ډاروي.

-ګوره داسې به نه‌وي، په لسګونه تنه یې وژلي او ته وایې چې ناروغي نه‌ده.

-ښه نو سمه ده چې تاسو ځانونه ډاکټران ډاکټران کوئ، نو زه به یوه کیسه درته وکړم.

یو ځای جمپ راورسېد او ټول سره وخوځېدو. مخکې سیټ کې سړی لکه چې ویده و، ځکه د جمپ په ټکان راویښ او وډار شو.

اوف اوف یې وکړل او سر یې وښوراوه.

خدای شته زما مې انډیوال ته غوسه راغله، هر ځای او په هره خبره کې بحث کوي او د هرې خبرې ځواب ته تیار وي.

په څنګل مې ووهه، راته یې وکتل. غلي مې ورته وویل:

- څه یې کوې چې بحث دې ورسره شروع کړی؟ پرېږده یې، خدای دې سر خلاص کړي.

دی رابرګ شو:

-ولې بحث ونه‌کړم؟ بحث کول کله کله اړین وي، که نه‌وي هم نو بې ګټې نه‌وي، د ځینو خلکو له مخالفت سره سره په



بحث کې یې ایله پر یوه خبره سر خلاص شي.

موټروان په ښیښه کې موږ ځارلو او خبرو ته مو غوږ و، همدا چې غلي شوو، بېرته یې غاړه تازه کړه او کیسه یې داسې پیل کړه:

- په کندهار کې د یوه لوی قومندان مور ناروغه شوه، وروره ګله نو دا یې روغتون ته وړې وه چې علاج یې وکړي. بیا هلته ډاکټرانو ورته ویلي وو چې قومندان صاحب که دا مور دې زموږ په روغتون کې د کرونا په نوم بستر کړې، دا به مو په موږ باندې لویه پیرزوینه وي. دا خبره چې قومندان صاحب اوري، سمدستي په غوسه کېږي. یو سوک یو ډاکټر وهي او بل سوک بل ډاکټر وهي. بس نو صاحبه څه به درته ووایم وایي چې روغتون وینو په سر واخیست او خلک یې تر منځ شول او ډاکټران یې له قومندانه خلاص کړل.

همکار مې چې دا خبرې واورېدې، نو لا ډېر په قهر شو او په لوړ غږ یې وویل:

-استاذه تا خو دې خپله کیسه وکړه. نو اوس به زه هم یو څو پوښتنې درنه وکړم. اول خو دا چې دا کیسه چې تا وکړه دا د قومندان کیسه تا خپله په سترګو لیدلې ده؟

-وروره ما خو په سترګو نه‌ده لیدلې، خو دغه ستا په ځای یو سړی راسره ناست و او همدا کیسه یې راته وکړه.

-ښه نو داسې پېښه چې شوې وه ولې ولایت کې دې قومندان صاحب دومره زور نه‌درلود چې د دې روغتون کسان پولیسو ته په لاس ورکړي او یا هم خلک پرې راخبر کړي؟

- ولله وروره زه به څه ووایم، خو خلک همدا کیسې کوي. ښه خیر زه به یوه بله کیسه درته وکړم چې ښه سم باور مو

ورباندې راشي. یوه کس خپله وینه د معاینې لەپاره وړې وه چې
کرونا دی او که نەدی. څو ورځې وروسته چې ورځې، ډاکټران
ورته وایي کرونا دی. وروپسې د کوم بل کس وینه وروړې، بیا
هم ورته ویل کېږي چې دا هم کرونا دی. په اخر کې خلک
اندېښنه پسې خلک او د معاینې په رابطه شک کوي. خلک د
خپل شک د لرې کولو لەپاره په پیچکاري کې د سپي وینه
راوباسي او هماغه لابراتوار ته یې ور وړي چې ټسټ یې کړي.
سبا ته چې خلک په نتیجې پسې ورځي، پوهېږي چې لابراتوار
والا ورته څه وایي؟
بیا یې په کړس کړس وخندل او پسې زیاته یې کړه:
- ورته وایي چې د کورنۍ دا غړی مو هم کرونا دی. نو سړی
ورته په ځواب کې وایي چې دا خو د انسان وینه نەوه، بلکې
د سپي وینه وه.
- گوره وروره اول خو به دا درته ووایم چې دا کیسه هغه وخت
هم د خلکو په منځ کې رواج وه چې لابراتوارونه نوي جوړ
شوي و، نو خلکو به ویل چې دوی په خپل کار نەپوهېږي او د
سپي او انسان وینې یو ډول نتیجه راوباسي.

بله خبره دا ده چې د کرونا ناروغۍ ټسټ د وینې له معاینې
سره نەمعلومیږي، بلکې بېله معاینه لري. کوم کېټونه چې په
افغانستان کې موجود دي، هغه د پزې له لارې د ناروغ سمپل
اخیستل کېږي او بیا د کرونا تشخیص ترې کېدای شي.
موټروان چې پوه شو بحث ورسره اوږدېږي، نو ویې‌ویل:
-ولله وروره ته لکه چې رښتیا ډاکټر یې، ما خو له اوله
وپېژندلې او درباندې پوه شوم.



-نه استاذه، داسې هم نەده چې زه ډاکټر یم او دا خبرې کوم. دا
مرض سخت مرض دی او بله خبره دا چې خلکو ته دا بې‌ځایه
کیسې کول سم کار نەدی. له دې سره خلک نور هم بې‌پروا
کېږي او ناروغي په زرهاوو خلک وژلی شي، لکه په دا نوره
نړۍ کې یې چې وینې.
-ولله ته هم ښه وایې وروره، خو بس زموږ خلک ډېری یې
سواد نەلري او په خبره یې هم سر نەخلاصېږي.
څو شیبې ټول غلي شوو.
موټروان چې ولیدل په بحث کې پاتې راغی، نو یو ځل بیا
یې خبره راپورته کړه:

او یوه بله خبره دا هم ده چې موږ خو الحمدلله مسلمانان یو،
نو عقیده او مسلماني هم ښه شی ده. ولا دا دی ما خو وینې
په دغه ټکسي کې ناست یم سهار چې اودس او لمونځ وکړم،
نو راووځم بس تر ماښامه یې د غزني په ښار کې چلوم او
که کومه پیره راته برابره شي، نو کابل ته هم ځم. له هر ډول
سپرلی سره مې سرو کار دی. دا د همدې ایمان زور دی چې تر
اوسه مې ولا که ټوخ هم وهلی وي، یا مې په سر درد شوی
وی، یا مې کومه ورځ تبه تېره کړې وي.
دلته زه هم ورزړور شوم او ومې‌ویل:
- استاذه داسې خبره نەده چې ته به ناروغۍ نەوې نیولی، خو
داسې هم شته چې یو کس دې د ناروغۍ میکروب ولري او
پرې ککړ دې وي، خو علایم به هېڅ نەلري. یعنې نه به یې
تبه وي، نه یې د سر درد، نه یې هم بله کومه علامه، خو له دې
سره سره به نورو کسانو ته ناروغي ورانتقالولی شي او نور کسان

چې له ده سره په تماس کې دي او د ده له وسایلو استفاده کوي، ممکن چې له ده څخه یې ناروغي ونیسي او حتی ویې وژني.

-ولا وروره په دومره خبرو بیا نو زمونږ سر نه‌خلاصیږي، بس خدای دې رابانديې ورحمیږي، زما ښځه هم ولاکه چندان جوړه وي، له پیغلتوبه ساه‌لنډي لري. هغه خدای ببښلې مور یې چې وه، زما خواښې، هغه هم همدې ساه‌لنډۍ مړه کړه. هسې نه چې په دې افت یې اخته کړم، واړه واړه اولادونه مې دي.


یو کس د سړک پر غاړه ولاړ و او لاس یې ورکړ چې موټر ته راپورته شي، خو موټروان ورته ونه‌دراوه او له ځانه سره یې وویل:

-ښه وینې چې ځای نه‌شته بیا هم لاس راکوې، چېرته دې کېنوم؟ اوس به دې په غم اړولی وم، بیا به د شل روپیو کرایې پر ځای په زرهاو روپۍ په ډاکټرانو لګوم، هغه هم که ښه شم.

د مخې سړی چې کابو نیمه لار ویده او بیا تر اوسه غلی ناست و، زمونږ خواته را مخ کړ، سترګه یې ووهله، بیا یې وویل:

استاذه تا لکه چې دا ټولې کیسې د مخې په سیټ کې د دوو تنو د کېنولو له‌پاره کولې.

له دې سره مونږ ټولو وخندل.



# ډار

لکه غل چې غلا کوي له دروازې پټ او غلي ووت، غبر مې پسې وکړو:

-گوره له ځان سره دې پام کوه چې په غم مو وانه‌ړوې.

بېرته راوگرځېد او راته یې وویل:

-ته دې هسې زړه ته وېره اچوې، هېڅ خبره هم نه‌شته. د نړۍ په کوم کنج کې یوه معمولي ناروغي پیدا شوې او هسې موږ پرې ډاروې چې هله کرونا ده او نیسي مو.

بیا مې هم زړه طاقت ونه‌کړ او په عذر مې ورته وویل:

- ته داسې وایې چې ټول خلک هسې لگیا دي. راډیوگانې او ټلویزیونونه خو ټول سترې شول، پرون ملا صاحب د جُمعې لمانځه په خطبه کې هم په لاسپیکر کې ویل چې لمنځونه مو په کور کې کوئ چې ناروغي مو ونه‌نیسي او ضرور نه‌ده چې

جومات ته د لمانځه لهپاره راشئ.
په کړس کړس یې وخندل او راغبرګه یې کړه:
-د همدې تبلیغاتو زور دی چې ته یې د کور دننه دومره ډاره کړې یې. زه چې سهار له کوره ووځم بیا تر ماښامه بوخت وم او خپل کار کوم، ولا که ری هم وربانديې وهم.
-خیر که نور نهوي، نو دا څادر خو دې تر خولې تاووه.
-خدای ته وګوره ښځې! دلته مې ته نهپرېږدې، دفتر ته چې لاړ شم، هلته مې همکاران همدا ببولالې غږوي او هر یو راته وایي چې لاس دې پرېمینځه، ماسک واچوه، دا مېوه وخوره، جوشانده وڅښه، دا وکړه او هغه وکړه، نور خو مو په دې کرونا زړه راخوړین کړو. ته او خدای له ځانه راته ډاکټره مهجوړوه. بس یوه اوازه یې اچولې چې هله کرونا ده او تاسو هم د ماشومانو لوبې شروع کړې.
زما چې نور زور ونهرسېد، نو په ګواښ مې ورته وویل:
-ګوره سړیه ته خو یې نهمني، خو که ناروغي دې کورته راوړه، نو بیا به له ځانه ګیله کوې.
ماښام چې کور ته راغی، نو لږ په غوسه غونديې و، همدا چې ډوډۍ یې وخوړه چاته یې زنګ وواهه. له کوټې ووت او ښه ډېر ساعت ورسره وغږېد، اخر زما هم ورته سودا شوه ورغلم او د دروازې په کرکۍ کې ودرېدم چې خبرې یې واورم.
-نه نه دا هر څه یې پر ما، ومې ویل چې هر څه پر ما، تاسو فقط فرمایش راکړئ، زه یې برابروم.
تاسو هسې ډارېږئ، هېڅ خبره نهشته، بس په خپلو کې به یوه مېله جوړه کړو.
-ټولو ملګرو ته زنګ وکړه او ورته ووایه چې هېڅ عذر او بهانه



نهمنم.
-څه وایې، زموږ په کور کې؟ ههههه، په مېرمن به مې له کوره وشړې. هغه داسې ډارېږي لکه کرونا چې په ما پورې نښتې وي.
-د ځای غم مهکوی ځای یې پر ما.
سبا سهار وختي یې موټر چالان کړو، غلی غلی لاړ او د مهمانخانې له دهلیزه یې پلاستیکي فرش راټول کړو او په موټر کې یې له ځانه سره کېښود. زه هم پسې ورغلم. د موټر ښیښه مې وروټکوله، ښیښه یې ښکته کړه، سر مې وردننه کړ او ومېپوښته:
-دا فرش دې د څه لهپاره په موټر کې ایښي؟
وارخطا غونډې شو، خو ځان یې غلط کړ او ویې ویل:
-هسې ملګري سره راټولېږي.
-ملګري سره راټولېږي که ته یې راټولوې؟
-یا دوی راټول یا ما راټول کړي، دې کې نو څه خبره ده؟
-ولې، تاسو دا ناروغي په سترګو نهوینئ چې سره راټولېږئ؟
-ښځې هېڅ خبره نهشته، ته هسې ډارېږې او موږ خو په خپلو کې سره راټولېږو، نو ناروغي به له کومه شي.
-ښه سمه ده، ته خو د ځان په غم کې نه یې، خو که کورته دې ناروغي راوړه، نو بیا به له ما څخه ګېله نهکوې.
د موټر دروازه یې پورې کړه او غلی له کوره روان شو.
ماښام چې راستون شو، نو له څېرې یې خوشحالي ورېده، په کومه لرې دښته کې یې مېله کړې وه. همدا یې ویل چې ملګرو ته یې خوندور روش پوخ کړ.
له دې خبرې به دوې اوونۍ نهوې وتلې چې بله ورځ ګورم

سړی لوند- خیشت په کور راننوت. رنګ یې الوتی او په بد حال و. په بیړه ورغلم او پوښتنه مې ترې وکړه:
څه خبره ده او سړیه، باران خو هم نه‌اوري، نو دا لوند- خیشت په څه یې؟
-بس ښځې پوښتنه یې مه‌کوه هسې سیند ته مې ځان واچاوه.
-سیند ته دې ځان واچاوه، د څه له‌پاره؟
-د کرونا له لاسه.
-د کرونا له لاسه، دا څه ګډې وډې وایې؟
-پوښتنه یې مه‌کوه زه کرونا نیولی یم.
-څنګه کرونا نیولې یې او کله؟ سمه خبره راته وکړه، سودایي شوی یې که څه؟
سترګې یې ښکته وې، پر مخ یې لاس را تېر کړ او غلي یې وویل:
-د تېرې پنځ‌شنبې په ماسپښین چې کورته را روان وم، نو خوله خوله کېدم، ماښام مې هم ډوډۍ ته چندان زړه نه‌کېده او ساړه مې کېدل. له ځان سره مې وویل چې سړیه نن ډېر ستړی شوی یې استراحت وکړه.
-ښه، ښه را په زړه شول چې ویل دې ستړی یم، بیدېږم.
-هو، هو هماغه شپه. له دې کوټې چې لاړم نو ویده شوم. یو یو نیم ساعت به لا نه‌و تېر، بېرته راویښ شوم، په خولو کې لوند- خیشت وم او سخته تبه مې وه. ستونی مې هم ډېر تود و او لکه سړو چې وهلی وم داسې احساس مې درلود. له ځان سره مې وویل چې د هلمند دا ګرمي او زه نو څنګه سړو ووهلم. بس نو ما ویل چې اوس راپیښه ده. لاړم سړې اوبه مې وڅښلې او بېرته په ځای پریوتم.



بستره راته سور اور وګرځېده او تبه مې ساعت په ساعت ډېرېده. هغه د ادې خبره مې راپه زړه شوه چې ویل به یې: د اوړي زکام تر ژمي ډېر سخت وي.
زه خو تر اوسه هېڅ‌کله په اوړي کې نه‌وم زکام شوی، خو همدا خبره مې زړه ته رالوېدلې وه چې رښتیا هم د اوړي زکام سخت وي. شپه په ویښه او ویده راباندې تېره شوه او سهار لمانځه مهال لږ راښه شوم او راپاڅېدم، اودس مې وکړ او د لمانځه له‌پاره روان شوم، خو پښې نه راپسې تلې. لږ به تللی وم که ډېر چې یو دم مې په زړه کې یوه وېره راپیدا شوه، هلکه که کورنا نیولی وې؟
په همدې چرتونو کې مې دې ته فکر شو چې که رښتیا کرونا وم، نو په جومات کې خو به ټول خلک رانه ونیسي.
بس نو له دې سره غلی بېرته د کور پر لور راوګرځېدم.
تبه مې د هغې ورځې تر ماښامه نوره هم پسې ډېره شوه او نور مې هم په ځان شکونه ډېر شول چې کرونا به وم. دوې ورځې نورې هم په همدې نرۍ تبه کې تېرې شوې او زه په دې چورت کې وم چې کرونا یم که نه یم. په درېیمه ورځ له کوره ووتم او دفتر ته مې زنګ وکړ چې نن ضروري کار لرم. دفتر ته نه‌شم درتلی او له هغه ځایه سیده د کرونا له‌پاره ځانګړي شوي روغتون ته لاړم او ټسټ مې وکړ. ډاکټر راته وویل، تر څو مې چې د ټسټ نتیجه معلومېږي، نو ښه به وي چې له نورو سره یو څه فاصله مراعات کړم.
-وای خدایه، نه مې درته ویل چې لږ احتیاط کوه.
- زه نو څه پوهېدم چې دومره ژر به مې نیسي.
-ښه نو دا لوند په څه یې؟

-هسې د هلمند سیند ته مې ځان واچاوه.
-دا څه وایې، د څه لهپاره؟
-خو ټول وايي چې صفايي مراعات کړئ، لاسونه مو ومينځئ!
-خو تا به هم لاس مينځل.
-نه ما ویل چې که په مینځلو وي، زه به ټول په سیند کې ولامبم، خو که خدای مې له دې بد مرضه خلاص کړي.
- سړیه اوس دا ووایه چې کرونا وې که نه؟
لکه خجالت غوندې چې وي په کراره يې وویل:
-هو پرون مې د ټسټ نتیجه راغله، مثبته وه.
یو ګام ترې رالرې شوم او ورته ومې ویل ښه نو ماته دې ولې نه ویل چې کرونا یې؟
بیا یې په کراره وویل:
-ما غوښتل درته ووایم، خو تا دومره ګواښونه راته کړي وو چې درنه ډارېدم.





# لمر

تر درې ورځې درد او سختې تبې وروسته مې خپل ورور ته زنګ وواهه او ورته مې وویل:

- دا څو ورځې کېږي چې وضعیت مې ښه نه‌دی، په ځان شک لرم چې کرونا نه‌وم. که یو ځل مې د ترینکوټ ښار د کرونا سنټر ته بوځې چې هم ټسټ وکړم او هم دارو درمل واخلم.

-دا څه وایې؟ ولې دې وختي نه‌ویل؟ دا دی درغلم. ته دروازې ته راووځه، زه هم په څو شیبو کې در وځم.

-سمه ده.

لس، دولس دقیقې وروسته مې ورور مې راورسېد او د شفاخانې پر لور وخوځېدو. په لاره کې مې ورور یوه ملګري ډاکټر ته زنګ وواهه او ټول جریان یې ورته تشریح کړو چې هم یې تبه وي، هم ځان درد او هم د زکام نښې لري. ډاکټرهم په ټلیفون کې

ورته ډاډ ورکړ چې راشئ او معاینات به مو وکړم.
کله چې شفاخانې ته ورسېدو، نو د شفاخانې په دهلېز کې هېڅوک نه‌ښکارېدل. فقط یو ډاکټر تر سترګو کېدو چې هغه هم ځانګړې محافظتي جامې اغوستې وې او ماسک یې وهلی و. ډاکټر رامخته شو او په دهلیز کې یې پر یوه چوکۍ کېنولم.
له دې سره زما وارخطايي دوه چنده شوه او نور مې نو ومنله چې له سختې ناروغۍ سره مخ یم. ډاکټر د یوې اوږدې خاشې یا الې په وسیله چې لښتې ته ورته وه زما له پزې سمپل واخیست او نور رانه روان شو. دا یې هم راته وویل چې د ټسټ نتیجه به مو په درې یا څلورو ورځو کې راشي. مګر زه دردونو دومره وارخطا کړی وم چې ډاکټر ته مې له عذر او ګواښه په ډکه لهجه وویل:
- ډاکټر صاحب، زما دردونه له توانه وتلي او نور یې نه‌شم زغملی، له بلې خوا که کرونا هم وم، نو زه په کور کې داسې ځای نه‌لرم چې یوازې دې ځان په کې قرنطین کړم. که مهرباني وکړئ او ما همدلته بستر کړئ چې یو څه دارو درمل راته په وخت ورسېږي ښه به وي که نه نو مرم، تر هغې چې روغ نه‌شم له دې ځایه یو قدم هم نه‌اخلم.
ډاکټر صاحب دې خیر یوسي، بې له دې چې څه ووایي او یا مې ورټي، راته یې د بستر زمینه برابره کړه.
بس نو یوه اتاق ته یې بوتلم او سیروم یې هم راته تېر کړل، خو دا اتاق نه‌و سم دوزخ و دوزخ. نه مې په ناسته دمه کېده او نه په پرېوتو. د درد پیچکاري یې په سیرومو کې راته ګډه کړه، خو په ما باندې یې تاثیر ونه‌کړ او یوه ذره درد مې هم ورسره کم نه‌شو. ورځ خو څه کوې چې شپه هم رابانديې په دردونو



او زګېرویو تېره شوه؛ داسې شپه چې ما ګومان کاوه د سهار لمر څرک به ونه‌وینم. خو د خدای مهرباني وه سهار لمر خاته مهال مې لږ څه دمه وشوه او خوب یوړم، نه‌پوهېږم خوب و که دردونو بې‌سده کړی وم.
د ورځې لس، یوولس بجې به وې چې راپه خود او بیداره شوم. بیا هماغه دردونه او د ستوني شدید خارش چې ګومان مې کاوه ځوزان پرې راکاږل کېږي. نور مې له دوا او ډاکټرانو هم هیله پرې شوې وه او پوه شوم چې دوا موا کوم تاثیر نه رابانديې کوي. په بستره کې راسم شوم او د کړکۍ په لور مې وکتل، یوه سره غالبوزه(غومبسه) د اتاق په کړکۍ کې تاوېده. ګرمۍ ښه ډېره وارخطا کړې وه او زه هم پوهېدم چې له زهرو ډکه ده. ښه شیبه ورته ځیر شوم بیا مې له ځانه سره وویل چې دا غالبوزه مې را اخیستې وای او ځان مې پرې چیچلی وای که مې درد ورسره په کرار شوی وای.
لږ څند وروسته مې په دهلېز کې د څو تنه د پښو ترپا تر غوږ شوه. په لوړ اواز مې وویل:
-ډاکټر صاحب، وه ډاکټر صاحب!
ښه وو غږ مې واورېدل شو او درې- څلور تنه یو ځای په اتاق رانوتل، یو یې پوښتنه وکړه:
-خیر خو وو، وضعیت دې څنګه دی؟
- ډاکټر صاحب، هېڅ پوښتنه یې مه‌کوه، داسې دردونه مې ولا که په ژوند کې لیدلي وي.
یوه ډاکټر بل ته مخ کړ او ورته یې وویل:
-د درد یوه پیچکاري ورته وکړئ.
-دا څو ساعته مخکې مو یوه پیچکاري په سیرمو کې ورته ګډه

کړه. لا یې څو ساعته نه‌دي وتلي.
زه چې پوهېدم نور درد نه‌شم زغملی، نو په بیړه مې ورته وویل:
-ډاکټر صاحب، هر څنګه چې کېږي یو څه مرسته راسره وکړئ چې نور دا درد نه‌شم زغملی که نن تر ماښامه مې داسې درد تېر کړ، نو خون مې ستاسو په غاړه.
دلته نو ډاکټران په خپلو کې سره په خبرو شول:
-څنګه وکړو، د درد ډېرې پیچکارۍ هم ورته ضرر کوي، خو ګټه یې د سر په سترګو وینو چې صفر ده.
-ولا که پوهېږم چې دا څه بلا میکروب دی، هېڅ شی ورباندې تاثیر نه‌کوي.
-ستا له دې خبرې سره مې یو بل فکر سرته راغی.
-څه فکر؟ ته خو همېش نوې حل لارې لرې.
-بس وایم چې که مریض ته ښه لمر ورکړو، نو څنګه به وي؟
-ګومان نه‌کوم چې ګټه دې وکړي.
-تاوان خو هم نه‌لري، هسې هم کوم بل علاج ورته نه‌لرو.
-ته څه په کې وایې؟
-ستاسو چې خوښه ده زه هم څه نه‌وایم، تاسو له ما ډېر تجربه کاره یاست.

له دې سره یې زه د شفاخانې انګړ ته ویستم، د غرمې سره لمر ته په کټ کې څملاستم او کمپله یې راباندې واچوله. لمر هم د اوړي لمر و او لا نیم ساعت به نه‌و وتلی چې پسې وایې خیستم. هلته لرې دوه نرسان سیوري ته ناست وو، ورغږ مې کړل:
-وه وروره، لږ یخې اوبه راته راوړه او ډاکټر صاحب ته ووایه



چې زه نور د لمر او تندې طاقت نه‌لرم، له دې ځایه بېرته خپل اتاق ته ځم.
یو تن یې لاړ او څو شیبې وروسته له یو جګ اوبو سره راغی.

اوبه یې راته په ګیلاس کې واچولې، کله مې چې وڅښلې نو شیرګرمه وې. پر ما چې لا مخکې لمر وارخطا کړی وم هېڅ ښې ونه‌لګېدې، نږدې و چې خوا مې ورسره وګرځي، اخ مې کړل او ژر مې له خولې یوې خوا ته توی کړې، نرس ته مې په قهر وویل:
-وه وروره مسلماني شته که نه؟ یو مو سره لمر ته څملولی یم او بل د یخو اوبو پر ځای دا تودې لمر وهلې اوبه راکوئ. لږ یخې اوبه راکړئ چې زړه مې ورسره یو څه یخ شي.
-نرس وویل چې د یخو اوبو د څښلو اجازه نه‌لرې، بس له همدې سره ګوزاره کوه او بل دا چې همدا لمر ته به تر هغې پروت یې چې ښه سم خولې نه‌شې.
دا یې وویل، بیا یې جګ کټ لاندې راته کېښود او رانه لاړ.
له بدې ورځې مې هماغه شیرګرمه اوبه په وچ زور وڅښلې او بېرته څملاستم.



دوه- دوه نیم ساعته به همداسې سره لمر ته پروت وم او داسې خولې رانه‌بهېدې لکه جرۍ. له هغې وروسته مې کرار کرار بدن ویده غونډې شو او داسې ګومان مې وکړ چې نور نو د بدن درد نه‌حس کوم او د یو څو شیبې له‌پاره خوب وړی وم.

مازدیګر یې بېرته اتاق ته بوتلم، په هغه شپه مې د شپې هم دوه- درې ساعته خوب وکړ. خو دردونه مې دومره ژر د ښه کېدو نه‌و، سهار مې بیا وجود په درد شو او زګیرویو مې کوټه په سر واخیسته.

سهار چې ډاکټران د ویزیت له‌پاره راغلل، پوښتنه یې وکړه:

-څه حال دې دی، له پرون نه یو څه ښه شوی یې او که نه؟

-ولا ډاکټر صاحب څه ووایم، د شپې دوه- درې ساعته ویده شوم، نور خو مې کوم خاص ښه‌والی نه‌دی لېدلی. ځان مې اوس هم دردېږي ته به وایې چې په چړو ژوبل شوی یم.

-ډاکټرانو یو بل ته څه سره وویل او نرس ته یې مخ ورواړاوه:

-همدا چې لمر تود شو مریض ته بیا لمر ورکړئ.

زه که څه هم تېره ورځ لمر ډېر په عذاب کړی وم، خو پوهېدم چې بله چاره نه‌لرم، نو مخالفت مې ونه‌کړ او همدا چې لمر راولګېد زه یې بیا انګړ ته وایستم او تر لمر لاندې یې پرې ایستم.

لمر راباندې داسې خولې وبهولې لکه په وجود کې مې چې هېڅ اوبه نه‌وي پاتې او هماغه شیرګرمه اوبو باندې مې ګوزاره کوله. غرمه مهال مې د راحتۍ احساس وکړ او په ځان



پوه شوم چې دردونه مې مخ په کمېدو دي. له دې وروسته هره ورځ شاوخوا دوه ساعته لمرته پرېوتم او مخ په رغېدو وم او بالاخره د الله تعالي په مهربانۍ له دې بد مرضه خلاص شوم.

پای